# لومړنۍ ازادي

(د بیاسمون او بیابیدارۍ د غورځنګونو زړي)

لیکونکی: رابرټ هارګریوس
ژباړه: نورالله اتل

# د اینساناپالنې چاره

کله چې د روم سترواکي رنګه شوه نو د زیاتې لېږدېدنې او لیښنې له امله د اورو‌پا اکر خورا بد شو. تر څو پېړیو انسانانو بس تش د ژوندي پاته کېدو هلې ځلې کولې. اولسونه په نیم نس مار‌ه ول، په تن پوره پټ نه ول او سخت په کړنو اخته ول. د دوی واکمنان نالوستي، ناپوه او ځنګلیان ول. ان چې تر ټولو تکړه یې هم خپل نوم نه شو لیکلای. هلته هیڅ ښار د اوسېدو وړ نه ؤ، هیڅ پاخه سړکونه نه ول، هیڅ ښوونځی نه ؤ، هیڅ پیسې نه وې، هیڅ بانکونه نه ول او هیڅ ډول ښه سوداګري هم نه وه. کومه لاتیني پوهنه چې پخوا وه هغه اوس هېره شوې وه. هلته هیڅ ډول ازادي هم اوس پاته نه وه. هر لومړي څیز تر نورو څیزونو لومړیتوب لرلو. لکه بیا راوروسته چې یوه روسي لیکوال ولیک: چې په هغو ورځو کې چې د پښو ارزښت تر لوسنیو (کتابونو) زیات ؤ. همدغه پېر ته د اوروپا تور پېر وایي. ازادي خو یو زیاتي څیز دی. کله چې د سړي ډېرې بنسټیزې اړتیاوې پوره شي نو بیا د ازادۍ وار راځي. لکه لارډ اکټن چې وایي، چې دا خو د یوه پاخه ښارتابۀ (civilization) یوه ډېره نازکه مېوه ده.

اوروپايي ښارتوب که چېرې بچ پاته شوی دی نو هغه زیاتره د مسیحي کلیسا له کبله دی، په تېره بیا د کلیسا د هغه غورځنګ له کبله چې په سادګۍ باندې ولاړ ؤ. هغۀ لوست او زدکړه ژوندي وساتل. کار او زیار ته یې ارزښت ورکړ او د کرنې بنسټیزه پوهه یې هم ژوندۍ وساتله. کله هغه له لویو سیمو څخه وشړل شوه نو د برتانیې او ایرلنډ شمالي جزیرو ته ولاړه او هلته ملایانو بیا هغه مات شوي دوۀدونه راژوندي کړل، هم هغه اشلوکونه یې زمزمه کول، خپل لوستني یو لوستل او لرغونې لاتیني پوهه یې له یوۀ کوله بل کول ته لېږدوله. که څه هم یوناني پوهه هېره کړل شوه. یوناني پوهه ختیځ ته د بېزنټاین ته ولاړه چېرې چې بیا اربي نړۍ په خپل لاس کې واخیستله.

ان نالوستو باربریانو هم څه نا څه ګټه ورسوله. که څه هم دوی خو ناښاریز (uncivilized) ول خو تکړه او سراښې وګړي ول. دوی ښېلالې درستې جوړې کړې لکه دروند یوی او د اس نال. دوی پرتوګ او سابون دوۀد کړل د پروړې (بوس) جوړول یې زده کړل. په دغه کار باندې یونانیان او رومیان هیڅ نه پوهېدل. او د سترو ایوانجلان لکه اګوستاین او ګریګوري په زیار په پای کې دوی هم مسیحیان شول.

کله چې د تیارۀ پېر هله ګوله ارامه شوه نو څرګنده شوه چې د زاړۀ ښارتوب په ځای بل نوی ښارتوب جوړې نیولې دي. دغه یو بېخي مسیحي ښارتوب ؤ، چې له باچا رانیولې بیا تر بزګرۀ هر وګړی یې په رېښتیا د کاتولیکي کلیسا هره وینا او هر دوۀر پالله. یوه ټولنه که به هر څومره وړه وه او که به هرڅومره لرې وه خو کلیسا به یې د ځان او اروا په منځ کې پرته وه.

خو ازادۍ لا اوس هم هیڅ نه شؤ کولای. هر کله چې به یې توان پیدا کړؤ نو د منځني پېر کلیسا به د زمیر پر ازادۍ، د وینا پر ازادۍ او راورسته بیا د نوي جوړ شوي چاپ پرا ازادۍ بندیزونه ولګول. د کلیسا لپاره تر ټولو لوی کار په راتلونکي ژوند کې د مسیهي ژغورنې اړتیا وه. تر خدایه پوري د رسېدلؤ لاره به یې په لمانځه او ساده اشلوکونه پیدا کوله او د ریښتینې (Reasoning) په کارولؤ خو بېخي نه. د کلیسا لپاره د هوشیارۍ تر ټولؤ لوی کار د پخوانو مشرانو د هغو لیکنو لوستل ول چې سېنټ توماس اکیناس په یوه جونګ کښې راټولې کړې وې.

موږ نۀ وایو چې هلته بېخي هیڅ ژواک (Culture) نۀ ؤ. د میځني پېر په وروستنۍ او اسوده برخه کښې هونرونه نۀ یوازې په اوروپا کښې بلکې په اسلام او ختیځ کښې غوړېدلي ول، چېرته چې په هغه وخت کښې ښارتؤب ډېر رسېدلی ؤ. د چین فلسفې او لوبې، د بېزنټیم پلازونو، د رنګون او انګورواټ هېشونکو درمسالونو ، ستر ارب پوهان او ریازي پوهان ، او په اوروپا کښې د ګیوټو انځورونو، د چاسر او ډانتې لیکنو، د مونټیوردي موسیکي او د چارټریس او رویین شاندارو ګیرجو یوازې د هغه چا ستاینه کوله دا هرڅه یې تر سوري لاندې ول مګر ازادۍ ستاینه یې نه کوله. لکه د تل په شان هونرمندانو په خپلې پوهې ډډه لګوله خو د څرګندونې ازادي یې د زؤرؤ او شتمنؤ مشرانو لخوا پر ساتنې باندې ولاړه وه چې په هغؤ کښې کلیسا تر ټولؤ زیاته جوته وه. رافېل د منځني پېر په باباګانو (Popes) کښې تر ټولؤ زیات درغلی ؤ، او لیونارډؤ خو په وازه خوله ویلي ول چې «زه د هغه چا کار کوم څوک چې پیسې راکوي». میچلانجیلؤ به بیا په ویاړ ویل چې زه یوازې د ساهو مشرانو لپاره کار کوم. دی په خپل کښې ښاغلی ؤ او له هغو ګنډونکؤ، موسیکارانو او اینجینرانو سره به کښېناستلؤ چې د دۀ مشرانو به په کار لګولي ول.

مګر یوه پېښې د وګړي د سوچ په ازادۍ کښې غوڅنده ونډه واخیستله. په پینځلسمه پېړۍ کښې د کلیسا او پوهنتونو خوشک سکولاستېیتوب (Scholasticism) ورؤ ورؤ د یوۀ نوي وګړپال مسیهي کول لخوا کمزوری کېدلؤ. دغؤ د ا زادؤ هونرونؤ پؤهانؤ د یوۀ ارام او ودان ټول اوروپایي ژواک سوچ راوړاندې کړؤ چې د هغې واکمنې ډلې لخوا یې ملاتړ وشؤ چې له رومي او یوناني بنسټونو سره سم روزل شوي ول. د جېکب برکهارډ په وینا ، دوی خپله فلسفه پر هغه څه باندې کښېښؤدله چې د منځني پېر ها خوا ته پراته ول. دوي اغېزناک ول ځکه چې دوی هر هغه څه باندې پوه ول چې لرغوني پرې پوه ول، دوی هڅه وکوله چې هغسې ولیکي لکه څنګه چې لرغونو لیکوالو به لیکل، دوی په سوچ کولو پیل وکولؤ او ډېر ژر وهوشېدل لکه څنګه چې پخوانیو سوچ او هوش کولؤ. دوی د هغو ځواکمنو او لیتمنو (Enlightened) کسانو، چې ملایان نه ول، ترسوري لاندې ول. او دوی په همدومره مغزنه توګه د چاپ له ګټو څخه کار واخیستلؤ.

وګړپالانو بېرته د سر وَ سرچینو ته په ستنېدلؤ غوښتنه کوله ، او د دغه کار په کولؤ یې د منځني پېر ملاپوهنه (theology) کښې پټ پراته ټکرونه (Contradictions) هم را برسېره کړل. دوی وښودله چې د مسیهیتوب ستر کړۀ وړۀ په امید ولاړ دي ، نه د برزخ په وېره یا په بخت او یا د

ختيځو دينونو په خاموشه خاموشۍ باندي. د مسيهيتوب د پيغام زړی پخپله کس دی. له خدايه سره د يو کس شانده د هغه خپله ځاني اوبجه ده، او د خپل ځان ژغورنه د هغه په خپل لاس کښې ده.

دغسي سوچونه د منځني پېر له ګروهو څخه دمره لري ول لکه مځکه او اسمان. دغه د نوې اورپا په تاريخ کښې د بنسټ نرخونو(Valudes) اوښتون بلل کېږي. ځکه چي ادميان يې د ازادۍ په لاره سم کړل او د ازادې وينا او ازادې څېړنې لپاره يې مځکه هواره کړه. دغه دواړه کارونه هم له مرنې او شخړې څخه راپيدا کيږي او هم په مرنه او شخړه باندي ولاړ دي. خو دغه دواړه کارونه د منځني پېر د کليسا له تګلاروسره نېغ په نېغه په ټکر کښې ول. د وينا په ازادۍ کښې دغه مانا پټه پرته وه چي د ريښتيا موندنې لټون لا نۀ دی بشپړ شوی – خو کليسا چيغې وهلې چي ريښتيا همهغه دي چي دا يې وايي. د زمير ازادي په دې ولاړه وه چي يو څوک بې له کومې جګړې ووايي چي زه هر هغه څه نه شم منلای بس هسي تش په تؤره همېشنۍ ريښتياوې بلل کېږي – خو کليسا به هغه کسان نتل چا چي به يې د ګروهې په اړوند «ولي» او «څنګه» ويل. يو ساينسپوه د ګروېږنې له لارې ريښتيا ته ځان رسوي – خو کليسا به ويل چي په دې کارونو کښې همدهغې ګای وروستی دی. د ازادۍ مانا ده رنګارنګي او بېلبېلتوب – خو کليسا به د يووالي غوښتنه کوله.

يو څه خو به خامخا کېدل. يا به کليسا يو ځل بيا خپل خوښه په اولسونو باند ي منله، او که داسي شوي وای نو ګرد لوېديځ جهان به د سوچ په غلامۍ کښې کابو لوېدلی ؤ له کوم انجام سره چي کاتوليکي هسپانيه يو وخت مخامخ شوه؛ او يا به د وګړپالنې هغې ستې ټينګېدلې کومو چي په خپل وخت د زغم او سهنې، د اند د هڅ او ګروېژنې او د اينسان د ځاني رېښتو (حقونو) لاره راپيدا کړه.

په لوېديځ کښې د ازادې وينا مزل هم د کليسا د واک په چپه (ضد) د ډغرې په ترڅ کښې پيل شؤ. چا چي په لومړي سر کښې د دغې ډغرې مخکښي کوله که هغوی پوهېدلي وای چي د دوی باغيتوب به تر دومره لري بريده رارسېږي نو له وېرې به يې وارپار ختا شوي ؤ. چا چي زموږ د نويو ښارندويو (civil) ازاديو بنسټونه کښېښؤدل هيڅ نۀ پوهېدل چي دغه به د دوی تل پاته او غوره ترين يادګار وي. خو فلسفيان اوس مني چي «د زمير او سوچ د ازادۍ پېژند همهغه وخت پيل شوې وې». مسيهيتوب چپ د برابرې ازادۍ کوم ليد زېږولی ؤ اوس هغه پخپله له کليسا سره په ډغره ؤ.

## د ناپوهۍ ستاینه

د وګړپالنې د جوش او خروش لوی نیشان یو بېرندوکی، څېړه او پخوانی راهیب ؤ چې یوازې په لاتیني کښې بې لیکل خو بیا یې هم لیکنې په اوروپا کښې تر بل هر لیکوال زیاتې خرڅېدلې او پر دې سربېره د څلوړؤ باچهانؤ او دوؤ باباګانو (Popes) دوست هم ؤ. دوی هغه یوازې د روټرډم د اېرسموس په نامۀ پېژندلؤ. که څه هم راوروسته د هغه لوستني تر 300 کالو پورې د کلیسا په تور لیستښ کښې پراته ول، اېرسموس د اوروپا د پوهانو اند له زړې غلامۍ ازاد کړؤ او د کلیسا د سمون لپاره یې لاره هواره کړه. دغه ګای بېخي یو متل شؤ: چې «اېرسموس هګۍ واچولې او لوتر چیچیان ترې راوایستل» نن چې لوېدیځ سوچ د زغم او ریښتینۍ (reason) په غبرګو تمبؤ باندې ولاړ دې هغه د دغه نازک مګر تورت وګړپال له برکته دې.

د هغۀ د لومړنیو کلونو په اړوند موږ دومره پوهېږو چې د 1460 روستاړ کښې په روټرډم کښې پیدا شوی ؤ ،دی د یوۀ لیکونکي او د هغۀ د یوې کونډې یارې چې مارګرېټه نومېدله، یو هرَمونی زوی ؤ. دغه هلک د ډېسیډېرس په مسیهي نوم ونومول شؤ، خو وروسته هغه دغه نوم وغوځولؤ او لاتیني نوم اېرسموس یې غوره کړؤ او ځان یې یو جهاني وګړی وګڼلؤ.

موږ ته د هغۀ له خپلؤ لیکنؤ څخه جوتیږي چې هغۀ په یوۀ دیني چاپېریال کښې لوی شوی ؤ. مګر کله چې هغۀ لا دیارلس کلن ؤ نو مور او پلار یې دواړه د تاوون له وبا څخه مړه شول او دی یې په هېرجینبوښ کښې د ملایانو تر روزنې لاندې یوۀ دیني ښؤونځي ته ورواچولؤ. هغۀ یو ناروغه او ځان ته ګوښی کمکی ؤ، لکه وایي چې پک په سر تار نه لري په چا کار نۀ لري، د هغۀ هم د جهان په غمونؤ هیڅ کار نۀ ؤ. هغۀ له یوۀ ښؤونځي څخه بل ته تللؤ او هغۀ څخه بیا بل ته، او ټول ژوند د ښؤونځي د هلکانو د استوګنې بد یادونه ورسره ول. په ۱۴۸۶ کښې هغۀ له ګواډا سره نیژدې د سټاین په سیمې کښې یوې مدرسې ته ورواچول شؤ. هلته په لیه وخت کښې هغۀ ځینه کلاسیکې لیکنې و موندلې. هغۀ د ځان لپاره د دغؤ لیکنؤ کاپي تیاره کړه او د شپې به یې د ډیوې په رڼا کښې خپلو همځلؤ ته لوستلې. هغۀ په کال ۱۴۹۲ کښې لنګوټه وتړله – په هغه کال چې کولمبس امریکه وموندله – خو ډېر ژر ملایي پرېښودله او د یوه پوهندوی په توګه یې د خپلې خوښې دنده پیل کړه. د یو څه وخت لپاره یې د ښؤونې کار کولؤ. بیا پاریس ته ولاړؤ چې په سوربونې کښې خپلې زدکړې پسې نورې هم زیاتې کې، او په پای کښې یو څو خوشاله کلونه په انګلیستان کښې تېر کړل چېرته چې د هغۀ کلاسیکه زدکړه یو ځل بیا تازه کړه.

که څه هم اېرسموس له لومړي سره د ملګرو جوړولؤ په چل ډېر ښه پوهېدلؤ، خو ان د مدرسې له پرېښودلو هم ښځؤ د هغۀ په ژوند کښې کوم لوی ځای نۀ لرلؤ. هغۀ به ویل، «چې که به چېرې په یوې نیمې پېښې شوم نو زه به ډېر بختور وم. او که په خپله خوښه وای نو زه خو ډېر هوښیار وم»هغۀ خو

بس د خپلۀ زدکړۀ لپاره ژوندی ؤ. يو ځل هغۀ يوې بلې سيمې ته په مزل روان ؤ او د يوۀ هوښيار سړي دغه ګای يې اورېدلی ؤ : «چې داسي اوسه لکه سبا ته چې ته مرې، خو داسي لوست کوه لکه چې ته به تل تر تله ژوندی يې»

له همهاغې ګړۍ راوروسته ټول ژوند يې کلم و چلاؤ، خپلۀ ملګرۀ او شکوميو ته يې ليکونه وليکل، د اينجيل او نورۀ پېړني کلاسيکۀ ليکنۀ ژباړه يې وکوله ، او د ګرامر لوستني ، فيکه، د فلسفه په خورا سوچه لاتيني کښې ليکل شوي ول. دغه هر څه يې پرته له کومې ډيکښنرۍ، پۀهنغونډ او يا د کوم بل لوستني مرستي وليکل. د چاپ د نوي هونر له برکته د هغۀ کتابونه ګردې اوروپا ته ورسېدل. په لندن، پاريس، جيېوا او روم کښې هر ځای پوه کسان د هغۀ په ليکنو پوهېدل، ځکه چی هغۀ هر څه په لاتيني کښې ليکلي ول. د هغۀ تيخنيک دغسي نۀ ؤ چې هر څه چې هغۀ ليکي نو هرومرو دي هرڅوک ورباندي پوه شي، بلکې هغوی اړ ول چې لټون وکي او له دې لارې زدکړه وکي. د راتلونکو دوۀ کولونو په منځ کښې هغۀ ښخي زيات اغېزناک شۀ، په تېره بيا د هغۀ لوستني ، دي کوپيا *De copia* د ډېرو زياتو نوښتونو د هڅوني لامل شۀ او په لوېديځ کښې يې د زدکړې اډانه ښځي تر دغه بريده واړوله چې يو ليکوال د ګړپالې ښۀوني او هونري برياليتوبونو تر منځ د کړۍ په هلکه وايي: «که اېرسموس نه وای نو شېکسپير به هم نۀ ؤ» دغه تړاو ځکه نور هم دروند دی چې اېرسموس په يوۀ ټکي انګرېزي هم نۀ پوهېدلۀ.

هغۀ چې به هر څه وموندل نو ليکل به يې، ان که به په اس هم سپور ؤ، کاغز به يې اس په زين باندي کښېښودلۀ او ليکنې به يې کولې. کله چې به ځای ته ورسېدلۀ نو د شپې به يې په پاک ډول وليکله. يو ځای هغۀ ليکي: «زه هره ورځ خپل کلم په ليکلو ستومانه کوم. هر ډول اوتې بوتې چې مي چورت کښې راځي نو راباسم يې، او دغسي ډول ليکنه کوم لکه يو کس چې د مولۀ جام په لاس کښې د ملګرو او يارانو په بانډار کښې له بل کس سره ګايېږي. »هغه د نورو لوستني په ډېره لېوالتيا لوستل. هغه به ويل، لوستي هغه ملګري دي چې هيڅ کله لکه نابللي مېلمانه نۀ وي، او کله چې دي هم پکار نه ول نو ايله کولای يې شې، دوی هيڅکله چاپلوسي او غوړه مالي نه کوي، دوی تا ته خپل ټول خلېتونه در ښيي خو هيڅکله ګيله نه درڅخه کوي، دوی ټول ربړونه له تا سره ګالي او ژوند تر پايه له تا سره پاته کيږي.

د اېرسموس دين د کلاسيک ژواک او مسيهي لوستنيو (د کليسا د ګروهې اپوټه) د يوې نرمې او ازادې ګډولې په بنسټ ولاړ ؤ. هغۀ سوکرات ته تر دونس سکوټس لومړيتوب ورکولۀ، او هغۀ ته د پرومېتيوس پېدل هغومره په زړه پوري ؤ لکه څومره چې ورته د ادن باغ ؤ. که څه هم هغه په دين پخه ګروهه لره خو د کليسا له شنډې دينپېژندنې، تشو باټو او زۀرکي ګايونۀ ته يې ډېر خشم راتللۀ. د روم برم د هغۀ کرکه راپاروله، د سپېڅليو څيزونو بندګي د هغۀ خشم راپارولۀ indulgence خرڅلاو د هغۀ لپاره يوه دغسي کړنه وه چې له درغلۍ ډکه وه. هغۀ د بابا جوليس دۀوم د لښکر جوړولو نيامت او په واټيکن کښې د پېړني چاپېريال په شتنو هم ډېر ناهيلی شوی ؤ، چېرته چې

هغهٔ په خپلو سترګو ولیدل چي کله هر څوک د جنګ ګایونه کوي نو هلته د لوست او زدکړه بېکاره شي.

کله چي هغهٔ د د الپونو په لاره په خپل اس باندي ستنېدلۀ نو بې په هغې لیکنې پیل وکولۀ کومې چي د بیابیداري (Renaissance) له ښوترینو کلاسیکو لیکنو څخه ګڼل کیږي. هغهٔ دغه لیکنه په یو څو روځو کښې پوره کړه، او کله چي لندن ته ولاړۀ نو خپل ګرانترین دوست، سر تامس مور، ته ډالۍ کړه. د هغې یوناني - لاتیني نوم موریې اینکومیم (Moriae Encomium) ؤ، چي غبرګې ماناګانې لري: د ناپوهۍ ستاینه، او د مور ستاینه.

د ،ناپوهۍ ستاینه، په لیکلو کښې ایرسموس هوډ وکولۀ چي کومې نیمګړتیاوې او خلېتونه چي په کلیسا کښې شته هغه د خندا او هنک په متې سمبدلای شي. دغه لیکنه په کال ۱۵۱۱ کښې چاپ شوه او د چاپ په تاریخ کښې له هغو لیکنو څخه یوه شوه چي په ډېر ګڼ شمېر کښې پلورل شوې دي. دوه څلوېښت ځله په لاتیني کښې چاپ شوه، او تر دې زیات په فرانسوي، جرمني او انګرېزي کښې بې ژباړې چاپ شوې. هغه په د روم کښې بابا، په لندن کښې د هېنري اتم، په پاریس کښې د فرانکویس لومړي او تورینجیا کښې د مارټین لوترکینګ لخوا لوستل کېدله. هغه په یوهٔ وخت کښې هم په درغلې کلیسا باندی یو ناترسه هنکي ګوزار ؤ او هم د واکمن مسیهیتوب د هوشیارې ناپوهۍ یوه سندریزه ستاینه وه. دغه ناندېول لوستي یوه لوبغاړې لرله - ناپوهي. ایرسموس وايي: هغه هر چیري او د اینسان په ټول ژوند کښې شته. دا له ګهیځه تر بېګا او بیا له بېګا تر ګهیځه له موږ سره مله وي. د هغې ژنګي په هر سر کښې شرنګیږي، او کله چي بې نوره کړنګا نه راپورته کیږي نو داسي بې وبوله چي مرګی رارسېدلی دی. ناپوهي وايي: « زه له سینګار سره هیڅ مینه نهٔ لرم ځکه چي زما څېره زما د ګوګل چورتونه نهٔ شي پټولای. زه پخپله یم او هیڅوک نه شي ښودلای چي زه نه یم»

د ځان د دغسي راپېژندلو وروسته، ناپوهي وړاندي ځي او وايي چي دا د اینسانانو تر ټولو لویه شکومیې ده. ناپوهي خوشالي ورکوي، او خوشالترین کسان ځوانان او ناپوهان او هغه کسان وي چي د درنښت، مشرکشر او د چا د واک پروا نه کوي. دا د جنګ په بېشمرتوب یو زورور ګوزار کوي او واي چي د جنګ ټوله ګټه یوازي د مځکې برسېرنې پوست ته رسیږي. او دا د فلسفیانو په اړوند وايي چي دوی بېخي بېشمره دي چي یوه بېلګه بې پخپله سوکرات دی. هغه پوښتي، کومې ټولنې خپل کانون له سوکرات څخه اخیستی دی؟ څوک یو هوشیار کس مېلمستیا ته وربولي؟ هغه به په خپلې سپېرې خاموشۍ هر څوک پرېشان کي او یا بیا به ډېرې ستومانونکې پوښتنې کوي. که چېري ته هغه د نڅا کولو لپاره ست وکې نو هغه به د اوښ په شان درنړې درته ووهي.

څومره چي د ایرسموس هنک نور په مخ ځي نو هغومره ژور او تېز نېش وهل کوي. هغه له مستو ځوانانو د هغو زړو ښځو په لور خوځېږي چي مړاوي تي بې په سینه زوړند وي. د دوی له ناپوهۍ

سره خیالپلونه هم مله وي او وايي چي «ژوند اوس ښه په مزه تېرېږي». د دوی لا اوس هم تاوده کیږي او د یوه انډیوال په لټه کښې وي. دوی خرمستو ځوانانو ته دانې وراچوي ، ستونه ورته کوي او په ډېرو پیسو يې له ځانه سره پرېباسي.

هغه د کلیسا په ناپوهیو باندي سر کیږي نو هنک او پېښې ورو ورو لیري کیږي او د تېرو ځپرکیو د نرم پسخند ځای ستوغه او ترخه ژبه نیسي کله چي هغه د ګروهګرو (مومنانو) په سپېڅلو کړنو، د مفتیانو په سربېرنو ریښتینو (دلایل) او د لوی پادري په ناسپېڅلي ژوند پوري ټوکې کوي . یو پوره ځپرکی خو یوازي له کړنو څخه ډکیږي. هغه د پیرانو کارونو راخلي چي ځینه يې وايي د غاښونو درد هرومرو لیري کولای شي، بل يې وايي چي له ښځو سره په لنګون کښې مرسته کولای شي، دریېم يې وايي چي غلا شوي څېزونه بېرته راپیدا کولای شي، څلورم يې وايي چي د هرچا ببرېږ له ډوبېدلو څخه ژغورلای شي او بل یو يې بیا وايي چي د رمې او ګلې له هر ډول بلا څخه ساتلای شي . ناپوهي وايي، دا څومره بېړاتوب او ساده توب دی چي د پیرانو لخوا روا ګڼل کیږي او ان هڅونه يې کیږي ځکه چي هغوی يې له ګټو هم اګاه دي.

له دیني دروېزګرو خو هرچېري او هرچا کرکه کوله او که به چیري په یو چا پېښې هم شول نو دا به یوه بدمرغي او بده کړنه بلل کېدله. خو دوی به بیا هم خپل ځانونه ډېره غوره ګڼل او په خپل ژوند به يې پوره لَوی لګېدلی ؤ. ناپوهي وايي چي یو وار خو دوی په لیک لوست نه پوهېږي او بیا دوی دغه هم یوه لویه سپېڅلتیا بولي. او بیا چي کله دوی په کلیسا کښې د خرو غوندي اونګیږي او هغه درودونه او دورهاوې وايي چي دوی يې په مانا هم نه پوهیږي خو دوی پوره ډاډه وي چي خپلو اوربدونکو ته بېپایه خوشالي او شادماني ورکوي. ډېری يې په دروېزه او ناولتوب کښې ښه ګوزاره کوي. د یوه ټوک ډوډۍ لپاره په اوربیو (درپدر) ګرځي او په هر سرای، ګاډي او کیښتۍ کښې يې له ځانه د خندا توکړه جوړه کړې وي. نو په دې توګه دا ساده وګړي په خپلې ګردې چټلۍ، ناپوهۍ، او په خپل سپک او بېشرم چلند سره وايي چي دوی خو زموږ په منځ کښې د نبیانو استازي دي.

که یو څوک په یوه مفتي باندي نیوکه وکوي نو هغه له دغه کس سره ریښتینۍ نه کوي بلکې سملاسي يې په سپکاوي تورنوي او ژوندي يې په اور سوزوي. خو پخپله همدغه مفتیان خپل وخت په هغو ګایونو ګاروي چي بې له دوی بل څوک يې هیڅ پروا هم نه لري. بیا ناپوهي په ځینو ګایونو باندي رغیږي چي ببخي ټوکې ښکاریږي مګر ټوکې نه دي. لکه سکولاستیي مفتیان چي به وبله رغېدل چي د بي بي مریمې په رحیم کښې به د ایسا مسیه بدن څومره اوږد ؤ؟ د خدایي زېږېدنې ځانګړې شببه به کومه یوه وه؟ خدای د یوې ښځې، شیطان، خره، کدو یا یوه کاڼي په بڼه کېدلای شي، څه؟ که داسي وی نو یو کدو به څنګه د دین ویناوې کولې، ماجوزې به يې څنګه کولې، او په سلیب پوري څنګه مېخول کېدلۀ؟ کله چي اوس هم لا د ایسا میسه مړی په دار زوړند ؤ او پیټر کومه دنده ترسره کولای نو هغه به څه ډول دنده وه؟

وروسته ناپوهي پخپله د بابا خوا مخ وراړوي او پوښتي، چي څوک به خپلي پيسې د هغې چوکۍ په پېرلو باندي ګار کي چي له پېرلو وروسته به يې د تورې، زهروورکولو او د هرډول جنګ جګړې په مټ ساتنه کوي؟ هغه ټولې دندې چي باباګان يې پخپله بايد وکوي، مګر دوی يې پلا پيټر ته پربږدي او يا يې بيا په پول باند وراچوي که څه هم دوی پخپله ډېر زيات وخت لري او ډېر په مزو او چړچو کښې دی. د ماجوزو ښکاره کول نو اوس د دوی لپاره زوړ او له دوده وتلی کار دی، وګړو ته ښوونه کول يو ګران کړاو دی، د لوستنيو مانا ايستنه د ښوونکو کار دی، او بندګي او لمونځ د وخت بربادي ده؛ اوښکې تويول کمزورتيا او د ښځينه کار دی، که يو څوک اړ شي نو سپک ورته ښکاري؛ ماتې خوړل يوه لويه سپکه بلل کيږي په تېره د هغه چا لپاره چي باچا هم پرېږدي چي پښې يو چپ کي؛ او مرګ يو بد څيز دی او په سليب باندي مرګ هيڅ درنښت ورته نه لري. له باباګانو سره چي کومې وروستۍ وسلې پاتې دي هغه دورهاوې دي چي دوی په ډېر خوارۍ غږ لولي، چي دوی يې په ډېره سخا شاوخوا لوني. مګر بيا هم دوی ځينه کسان له کليسا څخه بندوي او شړي يې. او کله کله خو داسي پرېکړې هم کوي چي يوازي د سترګو په اشارې ځينه کسان د مرګ کندې ته هم ليږي.

د کتاب په وروستاړ کښې ناپوهي د يوې سپېڅلې هوشيارۍ ښه غوره کوي کومه چي په پخپله د ناپوهۍ لوړترين رنګ دی، د انسان لپاره تر لېونتوب بل لوی زېری نشته. لکه اپلاتون چي ليکلي ول چي د مينانو لېونتوب د شادمانۍ تر ټولو لوړترينه ښه ده. «هر هغه څوک چي ښځي ژوره مينه کوي بيا نو پخپله ژوند نه کوي بلکه د هغه څيز په ګوګل کښې ژوند کوي له کوم څيز سره چي دی مينه کوي». همداز له سليب سره مينه کول د تر ټول سپېڅلې او لوړترينه ناپوهي ده؛ دا نه لمونځ ، بندګي او درنښت پېژني او نه بلهارۍ او لوستني (کتابونه) پېژني، دومره بس ده چي مينه ورسره وکوې.

اېرسموس د بيابيداري لومړنی ليکوال نه ؤ چي په کليسا يې نيوکې وکولې. بوکوسيو او مېکياويلي دواړو هم په هغې باندې د وخت بېګروهۍ او بدوالي تور لګولی ؤ. که څه هم هغوی دواړه تر هغهٔ بريده مخ کې نه ولاړل تر کومه ځايه چي اېرسموس تللی ؤ چا چي نه يوازي په بابا باندې نېغ په نېغه ګوزارونه وکول بلکې هغه يې چاپ او خپارهٔ کړل چي ټوله نړۍ يې ولولي. هغهٔ دا کار يو څه په پوهنې کې د خپل نړۍوال نامه لپاره او څه هم د مزې اخيستلو لپاره وکولؤ. کله چي ناپوهي د ژړا په ځای خاندي او په کليسا باندي د پسخند باران کوي مګر هغه کله هم په خدای باندي ټوکې نه کوي. د هغې څرګنده موخه مرسته کول وه، تاوان رسول نه، د بدو سمول، د سمو تباه کول نه.

د ګردو وګړپالانو په شان، اېرسموس هم د ليتوالو او زورور کسانو تر سوري لاندي ليکنې کولې. هغهٔ د هرچا لپاره ليکنې نه کولې او نه يې خپلې ليکنې له بېمانا کيسو او نکلونو سره ګډول غوښتل. د هغهٔ لوستني د هغو لوستو خانخېلو لپاره ول په چا کښې چې د هغهٔ لوستنيو يو ډاډ

راپیدا کؤ چي د لیتوالۍ (Enlightenment) زرین پېر په رارسېدلؤ دی. د غۀ ډاډ تر ډېرو پاته نۀ شؤ، مګر تر څو پوري چي پاته شؤ نو ستر کارونه یې وکول.

د اېرسموس مرغ ډېر ښه ول چي د سپکاوي له تورَ بچ پاته شؤ. یو ځل په د سوربون په سیمه کښې ساتنګرو (Conservative) موفتیانو هڅه وکوله چي هغۀ د سپکاوي په تور تورن کي مګر باچا فرانکویس نبغ په نبغه د دوی مخنیو وکولؤ. هغۀ یو د بیاټوګېدنې یو لیتوال باچا ؤ او داسي ښکاري چي ناپوهۍ ټوکې یې لوستلې وې او خوند یې هم ورکړی ؤ. سره له دې چي هغۀ په ډاګه کړې وه چي «که یو څوک د کاتولیکي ګروهې سپکاوی وکوي نو نۀ یوازي دا چي سزا ورکېدلای شي بلکې پکار ده چي د زېندۍ سزا ورکړ شي».

د اېرسموس د بریا ورځې لنډې وې، د هغۀ پاته ژوند د ډغرو او جنګ تر سوري لاندي تېر شؤ، د هغۀ د یوۀ سوکالَ زرین پېر خوب په هغې هلې ګولې کښې ورک شؤ کومه چي اوس په ټوله لوېدیځې مسېهې نړۍ کښې خپره شوې وه. د ناپوهۍ ستاینې، یوازي اوه کالَ وروسته مارټین لوترکینګ خپلې نامتو نهه نوي لیکنې وړاندي کړې . په دغو لیکنو کښې هغۀ د ویټینګبرګ د کلیسا په دورازه کښې د بابا د منښتؤ (indulgences) له درغلۍ ډک پلور باندي سختې نیوکې وکولې. پروټېسټېنټ سمون (Reformation) په رارسېدلؤ ؤ. د وګړپال او پروټېسټېنټ دوؤ غورځنګونو ترمنځ اینسانانو د ازادۍ، ساینس په لاره مزل پیل کؤ او په همدغې لارې د سیکولرتوب او وینا ازادۍ موخې ته ورسېدل.

## «همدغه زما دریځ دی»

د منښتې ناروا کار له پېړیو راروان ؤ. چاوسر چي کله « دکانټربري کیسې» ولیکلې نو د دغو کیسو د یوۀ لوبغاړي پراډونر یا بخښونکي په خوله یې ساده باده وګړي د منښتې په لوبه اګاه کړل. او د مارټین لوترکینګ په خپل ښار ویټنبرګ کښې کله چي ځایي سرکار ته د یوۀ پله د جوړولو لپاره پیسې پکار وې ، نو یې کلیسا ته وویل چي منښتې وپلوري. کلیسا هم له وګړو پیسې راټولې کړې او په بدل کښې یې هغوی د لېنټ لمانځنې په ورځو کښې وبخښل. دې ته د کوچو د ټیکس نوم ورکړ شؤ. او که به چیري ګوناه غټه وه نو منښته به ورته نبغ په نبغه له واټیکان څخه پېرودل کېدله. په ۱۴۷۷ کښې څلورم بابا سیکسټس په د نا‌ارامه اروؤ د ارامولؤ لپاره په ښکاره د منښتې لیلام پیل کړؤ. هرچا په اسانه له بابا څخه منښته پېرودلای شوه چي په یوه پوستکي به لیکلې وه. هغوی باور لولؤ چي که چیري په دې جهان کښې د کړو ګوناهو له لاسه یې په بل جهان کښې اروا ناارومه وي نو په دې منښته به یې اروا ارامه شي. او به یو چا یو څه زیاتي پیسې هم پسې ورکړې نو د خپلو هغو خپلوانو لپاره یې هم منښته پېرودلای شوه چي لالمخه مړه شوي ول. پخپله کلیسا هیڅکله نه

منل چي منښته پلورل او پېرودل کېدلای شي - ویل به یې چي منښته خو یوازي یو دیني کړنه ده پکار ده چي د ګوناه منل او کلکه توبه هم ورسره ملګرې وي - مګر اولس بیا داسي انګېرله چي دغه د ژغورنې په لؤر یو اړین ګام دی. زیاتره هغه کسان کوم چي به سختې تر وېرې او کړنو لاندي ول هغوی به ډېر ژر غاړه ورته کښېښودله. دوی باور لرلؤ چي په کومه شېبه چي د دوی پیسې د کلیسا په تجورۍ کښې ولوېدلې نو د کومې اروا لپاره چي دوی منښته کړې ده هغه به په همهغه شېبه له دوزخ څخه پیردوس ته والوځي.

د منښتو کاروبار ډېر پراخ ؤ او کلیسا د دغه کاروبار په ګټې باندي روږدې شوې وه او هم ورته زیاته اړه شوې وه: دغه کاروبار دومره پراخ شؤ چي واټیکان یې د سرینښتې کار فوګر بانکي کورنۍ ته په لاس ورکؤ. د دغې کورنۍ درانډؤ فیسونو یوه بله مرېنه راپورته کړه. درغلې بېخي زیاته شوې وه او د ناپایه خرڅونو له لاسه کلیسا غوښتنې ورځ په ورځ زیاتېدلې. نوي بابا لېو لسم په رؤم کښې د سېنټ پیټېر ستره کلیسا جوړول غوښتل. د هغې د رغونې لپاره بابا لېو یوه ځانګړې جوبلې منښته راوایستله چي د کلیسا د رغونې په کار کښې د برخې اخیستلؤ په بدل کې به د ګڼو بخښنو ژمنه ورکوله. په دې کار کښې له هغه سره د چاپ تازه راوتلي کاروبار هم مرسته وکوله. ځکه چي د منښتو چاپول یو ډېر ګټور کار ؤ په تېره بیا کله چي به یې تر اړتیا زیاتې پاڼې چاپ کړې نو هغه به بې تور بازار کښې وپلورلې. په یوهٔ ځل د شلو زرو یا دېرشو زرو کاپیو فرمایشت ورکول کومه ستره خبره نهٔ وه.

د منښتو د تبلیغولؤ لپاره ځانګړي روزل شوي تبلیغیان ول چي په ډېر برم به یې په ښار ښار ګرځېدل. په کومه دستوره کښې چي به منښتې ورکېدلې هغه به یې «د ویاړ ځای» بللؤ چي زیاتره به د ګونا د منلؤ دود هم ورسره مل ؤ ځکه چي له هغه پرته ګوناوې نه شوې بخښل کېدلای. د کال ۱۵۱۷ په اپرېل کښې یوه ورځ د خپل وخت تر ټولو نامتو تبلیغي ، ډمینیکي فرایر جان ټېځل، د ساکسن یوهٔ کمکي ښار جیوټېبورګ ته ولاړی او هلته یې خپله جنډه ووهله چي د جوبلي منښته تبلیغ کي. له لیري لیري ځایونو اولسونه ورته راغلل چي دستوره وګوري، خپلې ګوناوې ومني، او خپلې پیسې هغې ځانګړې منښتې ته ورکي چي د ټېځل په جنډو پورې ځوړنده وه.

ټېځل په ډېره چالاکۍ خپلې مسلې کولې: له وېرولؤ څخه به یې پیل وکولؤ، او بیا به یې وګړي دلاسه کول. هغه به پوښتل: *«تاسي نن څو سترې ګوناوې وکولې؟ یوه؟ دوه؟ نو بیا تاسي چورت ووهئ چي په یوه اونۍ، میاشت، کال او ټول ژوند کښې به څو ګوناوې کوئ؟ دغه ګوناوې ناپایه دي، او د هرې یوې لپاره د اوؤ کالو سزا پکار ده، یا دلته په دې جهان کښې او یا په د دوزخ په سرو لمبو کښې چي هر وخت په غرغنډو وي»*. په دغه ځای کښې به نو هغه خپله یوه منښه راوایستله او وبه یې ویل، *«تاسي د خپلؤ ګوناؤ د منلو د دغو پاڼو له برکته په ژوند کښې یو ځل بخښنه ترلاسه کولای شئ ...»* بیا به یې به هغې چالاکۍ لاس پورې کؤ چي ملایان یې هر چېرته کوي او له خپله جېبه به یې یوه سیکه راوایستله او په تجورۍ کښې به واچوله چي د خپل پلار لپاره بخښنه

وغواړي. ورسره به ګوناګار لنداړچيان په ګونډو شول ، خپلې ګوناوې به يې ومنلې او د تبليغې په تجورۍ کښې به د سيکو شرنګهار پيل شؤ او هغوی به باور کولؤ چې نور نو دوی د برکت په زور له دوزخ څخه وژغورل شول.

اتلس ميله ليري په ويټنګبرګ کښې ځوان ډاکټر مارټين لوترکينګ په خپله وړه مدرسه کښې د ټېخل له هغې تماشې اګاه شؤ چې په جيوټربورګ کښې يې لګولې وه او ورسره ډېر خواشينی هم شؤ. هغه د له ساده کسانو څخه د پيسو په شوکولؤ نۀ ؤ خپه، بلکې په دې خپه ؤ چې منښتې له لويه سره په دستور کښې ناروا دي. هغه پخپله يو بخښونکی ؤ او له خپلې تجربې ورته پته وه چې د رېښنياؤ توبه ښېخي کمه وي؛ کوم کسان چې به دۀ ته راتلل هغوی باور لرلؤ چې دوی به وبخښل شي ځکه چې هغوی له ده ته له يوې منښتې سره راغلي دي او ورسره د خپلو ګوناؤ په هکله يوه ليکلې پاڼه هم لري.

هغۀ تازه تازه په نوي ويټنبرګ پوهنتون کښې د يوۀ ديني لکچر لپاره يوه «*ليکنه د منښتو په هکله*» ليکلې وه. په ۱۵۱۷ کښې د *ال سېنټ په ورځ*، په نابېره توګه هغۀ ټول پخواني کارونه يوې خوا ته کړل او خپل ډک مېز ته کښېناستلؤ چې د دغې ورسې لپاره د پينځه نوي ۹۵ ليکنو يوه اوږده لړۍ وليکي. هغۀ چټکې وليکلې؛ په لنډو، تېزو او ټکري غونډلو کښې وليکلې: ځينه غونډلې يې کاري وې او ځينه نورې يې ديني وې؛ مګر ټول زور يې د مسيهي دين په دننه مانوي کردار او د توبې په اړتيا باندې ؤ، او زياتره يې په پلورل شويو منښتو باندې سختې نيوکې کړې وې. کله چې يې پوره کړې نو يې د کليسا په دروازې باندې ټکوهلې او کاپۍ يې له يوۀ ليک سره لوی پادري هم ورولېږلې. هغۀ هر څوک د دغې کشالې په هکله رېښتينيو (بحث) ته راوبلل. هغوی ته يې خوښه ورکړه چې رېښتينيو لپاره غونډه غوره کوي او که لېږنې (مراسله). هغه خپل لوی پادري ته وليکل: «*څومره بداو څومره خترناک وي کله چې يو پادري د خپلو وګړو په منځ کښې منښتې منې نو پخپله ښېخي په زوټه دغه کار کوي مګر اينجيل خاموش وي. زه له تا څخه غوښتنه کوم... چې هغوی ته ووايې چې په کومه بله ښه دي تبليغ کوي*»

هغه په مارټين بابا نامتو شوی ؤ. هغه په يوې بزګري کورمه کښې زوکړی ؤ چې د تورينګيان ځنګله په څنډو کښې يې د ايسليبن په سيمه کښې ژوند کولؤ. پلار يې په هغې سيمې کښې د ميسو په کان کښې د ويلي کولو په يوې بټۍ کښې ونډه وال ؤ. مارټين چې کله په اېرفورټ پوهنتون کښې زدکړې پوره کړې نو د پلار له خوښې اپوټه يې کليسا ته مخه کړه او هلته يې په نهه ويشت کلنۍ کښې په دينپېژندنې کښې ډاکټر شؤ. اوس نو هغه په ويټنبرګ کښې يو له هغو کسانو څخه ؤ چې د پوهنې مشري يې کوله نو ځکه خو به ډېر بوخت ؤ. هغه يوه دوست ته وويل: « زه کړۍ ورځ ليکونه ليکم، په مدرسې کښې د تبليغ چارې تر سره کوم، لوست زه خوراک په وخت کښې کوم، ورسره هره ورځ زه د ښار په کليسا کښې مسلې کوم، زه د نويو شاګردانو د کارونو څارنه هم کوم، زه يو ويکار (Vicar) (او د دې مانا دا ده چې زما لومړيتوب تر نورو يوؤلس ځله پورته دی)، په لايځکاو کښې د کبانو د

تالاب پالنه هم ما ته را له غاړې ده، زه د سېنټ پال په هکله وېناوې اوروم او ورسره د لمنځونو په باره کښې لیکنې راغونډوم... زه بېخي خپل لمانځه ته وخت نهٔ لرم. له دغو ټول جنجالونو سره زه پخپله هم یو ځان لرم چي له غوښې جوړ دی او د هم د جهان له غوښتنو او شیطان سره هم ډغرې وهم. ګوره، زه څومره لټ سړی یم!.» له دغو ټولو بوختیاؤ سره سره به نو اوس هغه ته د پروټېسټنټي بیاسمون چاره هم پرته وه.

مارټین لوتر یو داسي کس ؤ چي په ځان کښې دننه یې ډېر ټکرونه لرل. وَ خپل دوست ته په لیک کښې چي هغه کومې خوښې خوښې لیکلې دي په نورو ځایونو کښې بیا د نهیلۍ او په ځان باندي د بدګوګومانۍ بڼه لري. د لوستنیو په هلکه چي هغه کوم ژور چورتونه لرل زیاتره وخت به یې هغه د خپل اودسماتي د شډلو او ځېږو ټوکو ټکالو سره ګډراګډ کړل. له خپل سرسختهٔ پلار سره اړیکي پېچلي ول چي کله به ښه ول او کله تریګلي. ځینه کسان دغسي اړیکو ته د هغه رواني کیردار په سترګه ګوري چي له یوې خوا یې کمیني راګاڼي او له بلې خوا یې یاغیتوب. ورسته مشر کراناچ د مارټین لوتر د پلار ، هانز، یو انځور وکښلؤ چي د هغه تېزه، ساده امي هوډمنه څېره له ورایه پکښې ښکاره وه. هانزلوتر د خپل تکړه زوی په باره کښې اوچت اچت چورتونهٔ لرل او هغه یې پوهنتون ته ولېږلؤ؛ خو کله چي مارټین خپل د کانون لوست پرېښودلؤ او کلیسا ته ولاړؤ نو پلار یې ډېره خشمه لېونی شؤ.

په کومه ورځ چي مارټین په کلیسا کښې په لومړي ځل جمه کوله نو په هغه ورځ هم یو کړکېچ پیدا شؤ، مګر هغه یو داسي تجربه وه چي هغهٔ پکښې له یوې سپېڅلې وېرې سره مخامخ شؤ. له جمې وروسته کله چي یو له کانې وانې ډک باندار ؤ نو هانز په خوشالۍ سره وویل ، زه هیله لرم چي مارټین به دا کار د شیطان په نغوته نه وي پیل کړی. نو کله چي مارټین ببرته ورغبرګه کړه نو هانز هم هغه په ډېره ستوغه توګه خبل غبرګون وروښودلؤ ، او ورته وېې ویل چي تا له لسو ویناؤ (Ten Commandments) څخه دغه وینا نهٔ ده اورېدلې چي «د خپل مور او پلار درناوی کوئ».؟ د دغې وینا اغېزه ټول ژوند په مارټین باندي پاته شوه. ډېر کلنو پس کله چي هغهٔ په اوروپا کښې تر ټولو نامتو کس ؤ نو یو ځل یې خپل پلار ته وویل چي ستا وینا زما په اروا باندي ډېره ژوره اغېزه کړې وه.

لوتر د واک په باره کښې یوه رواني ستونزه لرل کومې چي په هغهٔ کښې د پښېمانۍ هوښونه (احساسات) پیدا کړي ول. سره له خپلو ټولو پرلپسې کړاونو او روژو بیا هم هغهٔ ټول ژوند کړېدلؤ. د هغهٔ کارونَ له خواشینۍ سره ګډوډ شوي ول. کله کله به یې هغهٔ به خشم هم کړؤ. یو ځل د هغهٔ پخواني پیر (Confessor) هغهٔ ته وویل: «ته یو کمکل یې، خدای له تا نهٔ دی خپهٔ، بلکې ته یې چي له خدایهٔ خپهٔ یې»

د پوهنتون په لومړیو ورځو کښې نهیلۍ هغهٔ رالاندي کړې وُ. هغهٔ ته څرګنده شوې وه چي هغهٔ له خدایهٔ کرکه کوي. او چي څومره به هغهٔ زیاته کرکه کوله هغومره به یې زیاته پښېماني هم کوله. نیژده وُ چي هغهٔ بېخي زاره چاودی شي. مګر نابېره د هغهٔ د نهیلۍ هوشونه په ډاډ او باور واوښتل. هغهٔ جوړ د زدکړې تر اوږدهٔ کړاوَ  تېرېدلوٴ چي یوه ستره رڼا یې ولیدله: ژغوره یوازي په ګروهه کښې موندل کېدلای شي. ښه کارونَ نهٔ، د کلیسا دستورې نهٔ، ملاتوب نهٔ، یوازي کلکه او ساده ګروهه د دیني ژوند اړین بنسټ جوړېدلای شي. کلیسا به هلته جوړېږي په کوم ځای کښې د اینجیل تبلیغ کیږي او په هغهٔ باندي ګروهه وي..

لوتر د سېنټ پال په لیکنو کښې له دغې لیکنې سره مخامخ شوٴ: « زه د مسیها په کتاب باندي نهٔ شرمېږم ځکه چي په کښې  د خدای رېښتینولي جوته شوې ده. لکه چي پکښې ویل شوي دي: رېښتونی به یوازي په ګروهه پایي.» د لوتر کرکه ورکه شوه. هغهٔ داسي وَ انګېرله لکه یو ځل چي بیا راژوندی شوٴ. دهٔ هغهٔ سدبد وموندلوٴ چي ټوله دینپېژنده یې پرې ودروله: واک یوازي د لوستني، روایښت یوازي له ګروهې سره، او پړه بس یوازي د خپل خدای وَ مخته. دغهٔ درې ګایونه د پروټېسټېنټ بیاسمون درې ستنې شوې.

چي لوستنی د دیني رېښتیاوُ یوازینۍ سرچینه وُ نو د هغهٔ مانااېستنه او ژباړه هم یوازي د لوتر په لاس کښې وه. ځکه چي هغهٔ « رېښتونی به یوازي په ګروهه پایي.» په غونډله کښې د «یوازي» ټکی له ځانه ورزیات کړوُ او ویل به یې چي په جرمني ژباړه کښې ورته اړتیا وه. هغهٔ یو ځای ولیکل: « دا رېښتیا ده چي د «یوازي» ټکی په لاتیني او یوناني لیکنو کښې نشته. نو ځکه خو کمکلان داسي برند ورته ګوري لکه غواوې چي نوې دروازې ته ګوري»

لوتر خپل ستر ځواکونه د دینپوهنې د ژوروالي او پرمختګ لپاره په کار واچول او په ویټېنبرګ پوهنتون کښې  په وتلیو پوهانو کښې ودرېدلوٴ. دغه پوهنتون د لوتر تر ورتګ شپږ کاله مخکښې د فرېډریک لخوا ودان شوی وُ.  ویټېنبرګ له سمندر څخه ۲۰۰ میله لیري د اېلب په هواره سیمه کښې پروت وُ کومه چي یوه لېري او ځانته اوبجه وه او  ژوند خورا پکښې پیکه وُ.  فرېډریک هلته دېرش کاله واکمن وُ. د سپېڅلیو څیزونو د راغونډولو وروسته د هغهٔ تر ټولو لویه پروژه د پوهنتون رغونه وه.  هغهٔ له سترواک ماکسیمیلین څخه  ورته هوکړه تر لاسه کړه. هغهٔ وویل که اګسټنیان ښوٴونکي ورته برابر کي نو دی به یې د ودانۍ غم وخوري. ډېر ژر لویې کوڅې په غاړه د لرګینو کورنو چي چتونه یې له څپریو څخه جوړ ول ځای د ښښتو او ډبرو څخه جوړو ودانیو ونیولوٴ.  د ښار ښاروالۍ چوکۍ او مېزونه ورکړل. له دینلوستنې سره سره په پوهنتون کښې د یوناني ژبې، روغتیا او کانون لوست هم وُ.  هر کال به نیژدې 150 نوي شاګردان ورلوېدل او ډېر ژر یې ځینه ډېر غښتلي کسان راکښل.  البرېښت دیورر او لوکاس کراناچ دواړه د یو څهٔ وخته لپاره په دغه پوهنتون کښې ول او ستر دینپوه فیلیف میلانچتون پکښې  د یوناني ژبې ښوٴونکی شوٴ. فرېډریک چي په خپل پوهنتون باندي کوم ویاړ کولوٴ هغهٔ په ځای وُ.

هغهٔ نېغ په نېغه د پوهنتون له چارو څخه ډډه کوله، او داسي يې سمبالولۀ لکه د خپلې سيمې چارې چي يې سمبالولې. کارندۀ ښارندويو نوکرانو هغهٔ د سېکسوني او د سپېڅلې رومي ستروا کۍ له چارو اګاه ساتلۀ. هغهٔ پخپله هم له هغې نارامۍ څخه اګاه ؤ کومه چي په ټوله اروپا کښې په خپرېدلو وه؛ هم په کليسا کښې دننه او هم له کليسا څخه بهر. اېرفورټ ته نيژدې په کليوالو سيمو کښې څرګندې بلواوې رواني وې، او بزګران د کليسا د چوچيز (اقتصادي) زبېښاک په چپه پاسون کولۀ ته نېژدې شوي ول. په اينګلستان، فرانسه او هالنډ کښې هم دغه ډول ټولنيزې او ديني نارامۍ تر سترګو کېدلې.

اروپا له خپل منځني پېر څخه په راوتلۀ وه، مګر د اولسونو ګرهه لا اوس هم څه وېره اوڅه په داسي پدلونو (Myth) باندي ولاړه وه چي پرې دوی پرې نۀ پوهېدل. دغه د مرګ له وېرې ډک او د لېونتوب وختونه ول چي د هيرونيموس په هونر کښې يې په ښه ډول انځورونه شوېه ده. هغهٔ د ګناکارانو داسي ويرلړلي انځورونه کښلي دي چي د دوزخ په لمبو کښې کبابيږي. په ځينو انځورنو کښې په سلېب باندي د ټکوهلې ايسا مسيه درد او کړاو وړاندي کوي. ان پخله په ويټېنبرګ کښې څلورشپېته ملايان د هغې کليسا غړي ول کومې چي به هره ورځ داسي جمې کولې چي پيسې به يې د مړو شوو خپلوانو پرې کولې. فرېډريک خپل وزګار وخت د سپېڅلو څيزونو په راغونډولۀ کښې تېرولۀ کوم چي پخپله يو ستر کار ؤ. په خپله دېرش کلنه واکمنۍ کښې هغهٔ دغسي 5,000 توکي راټول کړل، چي دغه لانديني توکي هم پکښې ول: د پېغلې مريمې د تي د شيدو يوه پياله، يو اغزی د اغزيو له هغه تاج څخه چي ايسا مسيه تر سلېب ختلۀ لمخه په سرولۀ، يوه بشپړه کپړۍ د هغو سپېڅلو بېګنا کسانو کوم چي د باچا هېرود لخوا وژل شوي ول، د ايسا مسيه د زوکړې يۀلس اړې بېلګې يا کريبونه. د دغو څيزونو راغونډول د فرېډريک لپاره يوازي ساتېری نۀ ؤ بلکې د ګټې کولۀ يوه ښه لاره هم وه، ځکه چي لندارچيانو به يې د کتلو لپاره پيسې ورکولې. د فرېډريک د کلا په کليسا کښې چي به کومې دستورې ترسره کېدلې هغه تر ګروهه زياتې په کړنې ولاړې وې، چي د اينجيل لوست بېخي پکښې نۀ ؤ ان د هغو کسانو لپاره چا چي لوست کولای شۀ. پخپله لوتر چي کله په لومړي سر کښې د دين لاره ونيوله نو پخله يې په اينجيل باندي ځان پوهولو هڅه وکوله.

مګر اوس نو هغهٔ وخت په پيلېدلۀ ؤ چي اينجل يې نۀ يوازي په لاتين کښې د اولس تر لاسونو وررسولۀ بلکې ځينه ځينه په خورا پام سره چڼلې برخې يې په جرمني ژبې کښې هم اولسونو ته وړاندي کولې. ګرځنده سوداګرو به هره ورځ په بازارونۀ کښې چاپ شوې کاپۍ پلورلې چي د توبې اوه دورهاوې، د سېنټ جان ګاسپل يا د څرګندونې لوستنی پکښې ول. په دغو پاڼۀ کښې به په زياترو باندي انځورونه هم کښل شوي ول او د وېرې له لاسه به يې زياتره د چاپونکي نوم هم څرګند نۀ ؤ. په دغه وخت کښې چاپ بېخي نوی ؤ او چاپونکي اګاه نۀ ول چي دغه کار روا دی او که ناروا. مګر اوس هغهٔ وخت رارسېدلی ؤ چي چاپ به لوتر پيغام د سېکسوني سوبې له پولو څخه تر ډېره لېري لېري پورې رسولۀ.

کله چي د کړکېچ مهال راغلۀ نو مارټين لوتر دوه ډېر زورَور ملګري لرل چي دی يې له هغې بدې ورځې وژغورلۀ له کومې سره چي تر هغۀ پخوا نور سمونګران (heretics)مخامخ شوي ول: يو اېليکټر فرېډريک ۀ چي د ټولواک له مرګه وروسته به يې د هغۀ ځای نيولۀ، او بل چاپ ۀ چي اويا کاله وړاندي د جاهنس ګوتنبرګ لخوا د جرمني په بله سيمه ماينز کښې جوړ کړ شوي ۀ. دوی دواړه يوه نۀ ماتېدونکې جوړه وه. لوتر په تاريخ کښې لومړنی کس ۀ چي چي د يوې اولسي شخړې لپاره يې چاپ وکارولۀ. د هغه لخوا د اينجيل په سوچه جرمني او اولس ژبه کښې هغې بساري ساده ژباړه وروسته وښودله چي چاپ د اولسونو د اګاهۍ تر ټولو لويه درسته وه چي تر اوسه پوري جهان ليدلې وه.

## د چاپ زۀر

ګوتنبرګ چي يو ځل ټولې ټوټې او پورزې سره راغونډې کړې او يو ځای يې سره پټلېس کړې نو د چاپ مزل ډېر په چټکۍ پرمختګ وکولۀ. د کلونو له تجربو وروسته هغه برياله شۀ چي داسي ټايپ چي د خوځېدلۀ جوګه وي له تېلي رنګ ، باوري کاغز او پخپله له چاپ سره يو ځای کي. دغه کار دۀ له هغو لرګينو نيښتېزونو (Pressers) څخه زده کړۀ چي په اوروپا کښې د شرابو د نيښتېزلۀ لپاره په پراخه کچه کارول کېدل. د هغۀ نوې رغونې رغونې د اندونو د راکړې ورکړې ښه په بله واړوله. له هغه وخته راوروسته نو د ازادې وينا تاريخ د ازاد چاپ له هغۀ سره داسي جوړه شۀ چي بېخي يې بېلتون ناشونی دی.

ګوتنبرګ د زرګرانو په يوې کورنۍ کښې پيدا شوی ۀ او له ځينو داسي کاروبارونو سره يې شانده پيدا شوې وه چي د رنګ په کاغز باندي د چاپ کار د مېخانيکي کولو لپاره ډېر ښه برابر ول. له ډېرو اوږدو او ګران نرخو تجربو پس ګوتنبرګ هغه لارې چارې وموندلې چي دغه تيخنيک په کاروا چوي. يو لوی پرمختګ خو يې هغه وخت وکولۀ کله چي ورته څرګنده شوله چي د لوستنيو د ګڼ چاپ لپاره د پوستکي په ځای کاغز ډېر ښه کار کوي. له هغه وروسته يې له وارنيشو او د ډيوې له تورکيو يو نوی رنګو ‹روشنايي› جوړ کړۀ. ورپسې يې لوی کار دا وکولۀ چي سپک او د اخيستلۀ جوګه ټايپ يې جوړ کړۀ چي ورباندي کښلي توري بيا بيا کارول کېدلای شول. ګوتنبرګ ټين، سکه او اېنټيمني سره ګډ کړل او دغه توري يې ترې جوړ کړل. هغه ته پکار وه چي د خپل لرګين پېچي نيښتېځونکي ستونز يې هم ورکې کړې وای ځکه چي اوس يې د چاپ لپاره کارولۀ. خو کله چي به يې د دغه کار لپاره کارولۀ نو رنګ به يې ښه پاک نه ۀ بلکه ګډوډ خاپي به ورڅخه جوړېدل. کله چي به يې د چاپ ماله د چاپېدونکي کاغز پر مخ باندي ورکښېکاږله نو هغه به رک په خپل ځای باندي وچه نۀ پاته کېدله بلکې له خپله ځايه به څه ناڅه خوځېدله او په دې توګه به يې ټول توري خپ شول. ګوتنبرګ دغه ستونزه هغه وخت هواره کړل کله چي يې د پېچ او مالې ترميان يو لرګين بکس

(چي هوز هم ورته وايي) ودرولۀ. له هغه پسته چي يې کوم ځومره چاپونه جوړ کړل هغه ټول بېخي کامياب ول او ان چي راتلونکي 300 کاله يې کار کولۀ.

د ډېرو نورو رغونکو په شان ګوتنبرګ هم له خپل کار سره د بېپايه مينې له کبله سخت پوروړی شۀ. هغه زيات پورونه له خپله يوۀ ګاونډي څخه اخيستي ول . ګوتنبرګ يې پورونه نه شول ورکولای نو ګاونډي يې هم په پای کښې يې هر څه ورڅخه برمته کړل. خو تر دې مخکې ګوتنبرګ د اينجيل لومړنۍ چاپي ګڼه چاپ کړې وه. (چي بې شکه لا هم په لاتيني ژبې کښې وه). هغه يې د ټايپي تورو سکښتل په 1450 کښې پيل کړل او دوه کاله وروسته يې په پټلېس کولو لاس پوري کړۀ. هغه شپږ پټلبسونکي په کار وګومارل چي په يوه وخت کښې به کار کولۀ. دغه ګران نرخه پروژه يې په 1456 کښې سر ته ورسوله کله چي يې 185 جلده چاپ کړل چي 40 يې لا اوس هم شته. که څه هم پخپله ګوتنبرګ ډيوالی شۀ او پسته په ډېرې نبستۍ کښې مړ شۀ خو د هغه رغونې ډېر زيات کسان وبډايان کړل او ډېره ژر د راين په تجارتي لارو باندي وغځېدله. کله چي د لوتر ويټنبرګ ته راورسېدلۀ نو د کم تر کمه د جرمني په شپېتو ښارونو کښې چاپونه جوړ شوي ول او د ګرځنده کاروباريانو لخوا لګيا ول په ټولې لوېديځې مسېهي نړۍ هر ځای لګول کېدل.

په دغو ورځو کښې چاپي لوستنيو ته د هونري توکو او د پوهنې د سرچينو په سترګه کتل کېدل. خو بيا يې هم نرخونه تر هغو ډېر ښه ول کوم چي به په لاس ليکل کېدل. تر ټولو زيات د وګړپالانو ورته پام شۀ چي د خپلو اندونو او چورتونو د خپراوي لپاره يې وکاروي. اېرسموس خو تر ټولو وړاندي دې کار ته ځير ۀ چي لوستني يې د اورپا په نامتو او برياليو چاپونو کښې چاپ شي.

د چاپ له برکته وکړپالان وتوانېدل چي د اينجيل يوناني او لاتيني جلدونه او نور پخواني لوستني چي له ځينو کسانو سره يا په ځينو مدرسو په لوستونو کښې پټ پراته ول بيا چاپ کي او په اولسونو کښې يې خواره کي. په همدغه وخت کښې يوناي ساينس او ريازي چي له پېړيو راهيسته له لوېديځ څخه ورک ول، بيا يو په يو له بېزنټايم څخه په راوتلو شول چي د يوکليد ، ارخيميدس او پټولمي د لوستنيو په شان لوستني هم پکښې ول. د دغو لوستنيو اغېزه ان د هومر، يوريپيدس او اپلاتون تر لوستنيو هم زياته وه. د ريازي چاپي ټېبلونو د ستورپوهنې او سمندري مزلونو کار بېخي اسانه کړۀ او ورسره ورسره اولس ته په پرلپسې توګه د اشلوکونو ، پېښو ، د اينجيل د کيسو او د سېنټانو د کيسو لوستني ورکړ شول. د اولسمې پېړۍ تر پيلېدلو يوازي په جرمني کشې 25,000 بيبلابېل لوستني چاپ شول. د اټکل له مخې په اوروپا کښې 20 ميليونه چاپ شول. زر کاله وړاندي چي په اوروپا کښې مسېهي دين پيل شوی ۀ نو کښونکو په لاس دومره لسوتني نه ول کښلي لکه اوس چاپ شول. د لوتر په ژوند کښې د لوستنيو پېر او پلور دومره اسان شۀ لکه د يوې مړۍ ډوډۍ اخيستل.

لکه د نورو رغونو په شان د چاپ پر سر ناندرۍ هم ورؤ ورؤ راپورته شوې. لوتر په لومړي سر کښې د خپلو اندونو د خپراوي لپاره د چاپ په کارولو چورت نهٔ ؤ وهلی. خو کله چي مېنز کښې ارچ بیشپ د هغه پوښتنې ته هیڅ غبرګون ور نهٔ کړؤ نو هغه د خپلو اندونو د خپراوي لپاره هڅې ګړندۍ کړې. هغه د وېټنبرګ چاپ ځېښتن جوهان ګریونېنبرګ ته ورغلؤ او ورته ویې ویل چي د دهٔ د اندونو څلوېښت جلده چاپ کي. او بیا یې هغه خپلو پوهنیزو انډیوالانو ته د سنجونې لپاره وروا ستولې.

کله چي له هغه تر چاپ لاندي ول نو ناندرۍ راولاړې شوې. د نومبر په پای کښې په لایپزیښ او ماګد یبرګ کښې نوي ګڼې پلورل کېدلې. په دسمبر کښې هغه نیورمبرګ او باسلې کښې چاپ شول چي به جرمني کښې یې نوی نوم ؤ: *د دینپوه ښاغلي مارټین لوتر رینښتینۍ د منښتو په هکله*. ډیورر هغه ته په لرګینې تختې باندي کښل شوې مننې ورواستولې ځکه چي هغه څه یې لیکلي دي چي هر چا یې لیکل غوښتل. کله چي پادري مولډرستهاین د هغه اندونه په خپلې مدرسې کښې ولوستل نو ډېر زیات یې وستایل او ویې ویل: « دغه هغه کس دی چي یو څه به وکوي». اوس نو په ټوله اوروپا کښې په زرګونو کاپۍ پلورل کېدلې. اېرسموس یوه کاپۍ په اینګلستان کښې خپل ملګري سر تامس مور ته هم ورواستوله. او د کارډینال ولسې کسانو یوه کاپۍ ونیوله چي د وړیو په بار کښې کاچاکېدله. مګر کله چي یو ځل چاپ شول نو بیا خو یې درول ډېر ګران ول. لوتر نه دا چي هغه څه یې وویل چي چا نهٔ شول ویلای بلکې خپل پیغام یې په ټوله اوروپا کښې هم خپور کړؤ. د هغه د اندونو چاپي کاپۍ د اوښتون د مرام په توګه کارول کېدلې.

که نور وختونه وای نو لوتر غاړې ته به ډېر ژر تېزندۍ لوېدلې وه. مګر بخت هرڅه په بله خوا بوتلل. سپېڅلی رومي ستروا کمن، ماکسیمیلین، ناروغ شؤ او پاېدلؤ هیله یې نهٔ وه. د ستروا کۍ اوؤ وا کمنتهاکو به د هغه ځیناستی ټاکلؤ، او په هغو کښې یو هم فرېډریک ؤ چي د لوتر ساتندوی ؤ او په خپله د ستروا کۍ تاج په سرولؤ ته هم ولاړ ؤ. دمیدیسي پاپا یې هم لورینه کوله ځکه چي هغه غوښلته چي د هسپانیې د هاسبورګ باچا، چارلس پینځم، د ټاکنې مخه ونیسي څوک چي د واټیکان خوښه ورځ په ورځ ځوا کمن کېدلؤ. په دغسې اکر کښې چي تمه یې نهٔ کېدله، ښاغلي لېو نهٔ غوښتل چي فرېډریک د مارټین لوتر د نابېره پېښې پر سر خپه کي. ځکه چي اوس نورې ستړې کیسې پېښې وې نو هغه وویل چي د مارټین لوتر چاره دي په پام سره ترسره شي. نو ځکه خو یې دی د یوهٔ سپکاګر په توګه وَ روم ته د وړلؤ په ځای په جرمني کښې د بابا یوهٔ ټاکل شوي استازي، کارډینل توماس کاجېټن، ته مخامخ کؤ، چي له وګړو سره به یې د پلار په شان چلند کولؤ. هغه ته ویل شوي هم ول چي دغه مرېه دي په ارامه توګه هوراه کي. لوتر په سرکاري بدرګه کښې په خوندي توګه راوستل شؤ، په 7 اکتوبر 1518 په اګسبرګ کښې د کارډینل دربار ته ورسېدلؤ. څومره چي هغه اناړي ؤ هغومره هغه زېلي هم ؤ او لا اوس هم پوره پوره ډاډه ؤ چي هغه د خپلؤ رینښتینیو په زؤر کارډینل ملګری کولای شي. د هغه موخه سمون وه، بېلتون نهٔ.

مګر د هغوی دغه ناسته په ناورین واوښتله. کارډینل کارجېټن له ګنده ورځې سره مخامخ شو. هغه د بېلا بېلو خواو د غوښتنو تر میان ایسار و. له یوې خوا له برمه پرېوتلی پاپایي دربار و، له بلې خوا د دهٔ خپل ډومینیکن ګروهه وه او له دربېمې خوا د سیمې واکمن و. د ډومینیکي ګروهې لمخې لوتر باید وژل شوی وای، ځایي سرکار غوښتل چې هغهٔ بچ کي، او پاپا یو سوچ نهٔ لرلو، کله به یې یوځه ویل او کله به یې بیا بل څه؛ لومړی یې غوښتل چې له لوتر څخه پوښتنې ګروېږنې وکوي، بیا یې غوښتل چې هغهٔ ونیسي، او اوس یې غوښتل چې یو ډول جوړ جاړی ورسره وکوي. کارجېټن ته وویل چې له خپلې اغېزې څخه کار واخلي او لوتر دې اړ تؤبې ایستلو ته اړ کي، که داسې ونهٔ شي نو بیا دې له خپله واکه کار واخلي.

کارجېټن پوره پوره هڅه وکوله چې له مرکچیتوبه کار واخلي. د سپرالونګا په نامهٔ خپل یو مرکچي یې د لوتر استوګنځې ته له دغه پیغامه ورواستولو چې بس دومره دې ووایي چې زما «توبه ده»، نور به هرڅه په خپله سم شي. له هغه پسته به نور هیڅ ډول سزا نهٔ وي. مګر نور به نو اکاډیمیز ې ناندری هم نهٔ وي. کارډینل نهٔ غوښتل چې له لوتر سره د دینپوهنې په سر ریښتینې وکوي. هغه ریښتیا هم غوښتل چې له دهٔ سره د ناندریو په هوارولو کښې مرسته وکوي. مګر د داسې کولو لپاره پکار وه چې لوتر توبه ایستلې وای. په دغه ځای کښې داسې ښکاري چې لوتر لږ شان خرګنده کړې وه چې ساکسوني واکمن یې په ننګه ولاړ دی. سپرالونګا ورڅخه وپوښتل، که واکمن یې ننګه و نهٔ کوي نو بیابه ته چېرته ځې؟ لوتر ورغبرګه کړه: ''*Sub coelis*'' ، تر اسمان لاندې، تر هسک لاندې. دا د یوهٔ سوفي غبرګون و چې د خدای یو ساتندوی و.

په سبا یې له کاجېټن سره مرکو یوه لړۍ پیل کړه. هر ځل چې به لوتر یل کولو نو په دودیزه توګه به یې د واکمنو درناوی کولو ، د کارډینل په مخ کښې به یې خپل سر تر مځکې پوري ټیټ کړو. بیا به وویل چې دی به کلیسا ټول ګایونه ومني که هغوی دهٔ ته وروښیي چې «دهٔ په کوم ځای کښې تېروتنه کړې ده». کارډنیل د هغهٔ دوه لیکنې راوایستلې او ورته وویل چې دواړه د کلیسا له ښوونو سره په ټکر کښې دي. لوتر ورڅخه وپوښتل چې دا په اینجیل زباتولای شي؟ کاجېټن په دې ډول نټه وکوله: د کلیسا واکمني چې څومره په اینجیل ولاړه ده هغومره په دوؤد باندې هم ولاړه ده. پکارده چې لوتر تؤبه وباسي، ځکه چې دغه د پاپا غوښتنه ده. مرکې په مخ روانې وې او ورسره د کارډینل چلند هم بدلېدلو. کله به د یوهٔ مشر په شان شو، بیا به خپل برم وځلولو، له هغه پسته به بیا خواخوږی شو، او بیا به وخشمېدلو. او په پای کښې کله چې لوتر نؤر هم په خپل ګای ټینګ شو نو دهٔ هم دړکې ورکړې.

په پای کښې کارډینل ډېر په کرکه د لوتر کاغزونه ایسته ورواچول او پې وربرچ بې وهل، توبه وباسه! لوتر په ویټنبرګ کښې د خپل پوهنتون مشر ته ولیکل، «نیژدې لس ځله ما هڅه وکوله چې یو څه ووایم مګر هر ځل به ابلچي پې راغووهل او ګابدلو ته به یې نهٔ پرېښوډلم. وروسته نو ما چیغې پیل کړې». د لوتر مرکه په داسې اکر (حالت) کښې پای ته ورسېدله چې کاجېټن ورڅخه په

چیغو د تؤبې غوښتنه ورځخه کوله او ورته ویل به یې، « ولاړ شه، بیا تر هغۀ مۀ راځه تر څو چې دي تؤبه نۀ وي ایستلې». نؤر نؤ مرکه پای ته رسېدلې وه، خو کارډینل لا اوس هم خپل کس پوره نۀ ؤ پېژندلی.

فرېډریک اوس له دوؤ ګرانؤ پوښتنؤ سره مخامخ ؤ. کاجېټن ورځخه غوښتل چې یا خو دي لوتر رؤم ته په لاس ورکي ځکه چې په ښکاره یې سپکاوی کړی دی؛ او لا بیا دي هغه هالنډ یا بوهېمیا ته وشړي. له ډېرؤ زیاتؤ ناندیو پسته هغۀ د لوتر په ننګه د درېدلؤ پرېکړه وکوله او وویل چې هغه به په ساکسوني کښې پاته کیږي. هغه پخپله کاجېټن ته لیک واستولؤ چې د لوتر چاپي «نټه» هم ورسره مله وه. په لیک کښې یې ورځخه وغوښتل چې د ډاکټر لوتر سپکاوی دي په اینجیل کښې زبات کي. تر هغۀ به مارټین لوتر په د دۀ تر ساتنې لاندي په ویټنبرګ کښې وي. د سمون په پرمختګ کښې دغه یوه بله ستره ګړی وه.

اوس نو لوتر ډېر نامتو شوی ؤ. اولسونه به لؤر له لؤره راتلل چې د هغۀ ویناوې واوري. هغۀ به هره ورځ دومره لیکنې کولې چې د ګریوتنبرګ چاپونؤ به نه شوې چاپولای. چاپ دري کاله شپه او روځ په هلؤ ځلؤ لګیا ؤ چې د لوتر لیکنې چاپ کي. هر پسرلی به د هغه له لوستنیو ځخه ډکې ګاډۍ په فرانکفورټ کښې د لوستنیو مېلې ته لېږل کېدلې. د چاپولؤ کار دومره زیات شؤ چې ګریوننبرګ یې 40 میله لرې په لایپزیګ کښې یوۀ بل چاپ ته لېږلؤ ته اړ شؤ. دواړؤ ښې پیسې جوړې کړې که څه هم لوتر ته یې هیڅ نه ورکولې. د وخت یو بل نامتو لیکوال، اېرسموس ، ته به په باسېل کښې خپل چاپونکي کله نا کله یو پوستین او یا کوم بل سوغات ورکؤ، مګر داسي ښکاري چې لوتر ته چا هیڅ ورکړي نۀ ول. لکه نن هغه وخت هم لوستني د چاپونکؤ او خپرونکؤ لپاره یو ګټور کاروبار ؤ مګر نۀ د لیکوالانؤ لپاره. لوتر کله هم ګیله مانه نه کوله

چي ورځې تېرېدلې هغۀ نؤر هم ډاډه کېدلؤ چې د کلیسا د ستونزؤ ریښې په رؤم کښې دي. هغه ولیکل: «هلته هر څؤک لېوني، کمکلان، په خشم، پاګلان، بېړاګان، کوتکان، ډېرې، دؤزخیان او شیتانان دي». ان د خدای په مزدک کښې د مسیها دوښمن په تخت ناست دی. « خپه، بېلاریه او په سپکګره رؤمه په مخه دي ښه؛ تا ته خدای په خشم دی». هغه بېلتون (schism) چې له ډېره وخته یې وېره وه او راغلی ؤ.

## شړنه

په ۱۵۲۰ کښې پاپا لېو دې ته اړ ایستل شؤ چې یو څه وکوي. هغه د نوي سترواک په چنلؤ کښې پاته راغی. د پاپا له ټولو هڅو سره سره د هسپانیې پینځم چارلس د تخت لپاره ونومول شؤ. پاپا لېو د اټالیې په غرنۍ سیمه کښې په خپله ښکاري استوګنه کښې ؤ چې د شړنې لیک ورته د لاسلیکولؤ لپاره ورته راورسېدلؤ. کله چې هغه ناچاره شؤ نو یې د ښاغلي لوتر شړنه لاسلیک کړه او ورسره یې پرې ولیکل: «اؤ خدایه، د انګورؤ په باغ یو یاغي سوډر ګډ شوی دی. » هغه لوتر ته

شپېته ورځې ورکړې ، چې يا خو دې توبه وباسي او يا به له شړنې سره مخامخ شي او ورپسې به تخته دار باندې تېزندی، شي. په دې ترڅ کښې به د هغه ټول لوستني د اولس مخې ته سوځول کيږي هم.

د لېو فرمان بېلتون (schism) ته لاره پرانيستله. اوس نو لوتر يو جرمن اتل ؤ. د هغه ملاتړ خورا زيات شوی ان چې د کليسا چاروکيو د لېو فرمان له يو څو پاپايي ښارونو لکه مېرسبېرګ، مايزن او براندېنبرګ پرته بل چېرته ببخي خپرولای نه شؤ. په ابرفرټ کښې وګړو هغه د اوبو يوۀ خوړ ته وغورځولؤ او په لاپزيښ کښې شاګردان راغونډ شول او په هغه پورې خندونکې او له ټوکو ډکې سندرې جوړې کړې. په کولون کښې ارچبيشف او د هغه ټولو انډيوالانؤ له هغې دستورې سره پرېکړون وکولؤ چېرته چې به د لوتر لوستني په يوۀ لوی اور کښې سوځول کېدل. په نؤرؤ ځايونؤ کښې بيا د لوتر د لوستنيو په ځای نؤر بېکاره کاغزونه او يا بيا پخپله د کليسا لوستي اؤر ته وغورځول شول. پخپله لوتر هم نوي سترواک ته وليکل او غوښتنه يې ترې وکوله چې « د ريښتياؤ ساتنه دي وکوي»، او تر هغؤ دې دۀ ته سزا نۀ ورکوي ترڅؤ چې د پاپا تؤرونه اورېدل شوي نۀ وي او ماته يې نۀ وي خوړلې.

کومه ورځ چې د لوتر د توبې ايستلؤ لپاره ټاکل شوې وه په همغه ورځ د هغۀ ملګرو په ويټېنبورګ کښې يو لوی اؤر بل کړؤ او د نشانې په توګه يې د کاغز يوه پاڼه چې د کليسا يوکانون ورباندې ليکل شوی ؤ د هغۀ اؤر لمبؤ ته ورغوځار کړؤ. ورپسې لوتر د پاپا هغه فرمان هم د اور لمبؤ ته ورواچولؤ. هيڅؤک د دغه کار په مانا هغه ګړی نۀ پوهېدلؤ، خو دا يو ډېر ستر کار ؤ. د دغې شخړې له لاسه کليسا په دوؤ داسي خواؤ وبله ببلېدونکې وې چې يوه د بلې دوښمنه وه. د کال ۱۵۲۰ په دغؤ يو څؤ اونيو کښې د داسي ديني جنګونو زړي وکرل شول چې اوروپا يې ببخي تبا کړه.

د پاپا نيژدې نيمی استازي له لوتر سره ودرېدل مګر پخپله پاپا د زاړۀ دود ننګه وکوله. هغه ويل، «يوازې يو کس د زر کلن مسيهيتوب په چپه راولاړ شوی. هغه هرومر ناسم دی. زه به له هغه سره هغه چلند وکوم چې له يوۀ سپکبول (heretic) سره پکار دی.» جؤړجاړی خو ببخي کېدلای نۀ شؤ او د کورنی، جګړې وېره هر وخت وه. د ورمز په راينلنډ کښې يوه سترګه جرګه په جؤړېدلؤ وه چېرته چې به نوی سترک هم د څه وخت لپاره تم کېدلؤ او بيا به له هغه ځايه رؤم ته پاپا ته ورتللؤ چې د سترواکی، تاج ور په سر کي. اوس نؤ هر ډول چلونه او لوبې روانې وې، مګر په پای کښې پرېکړه وشوله چې پکار ده لوتر ورمز کښې د جرګې مخې ته وړاندي شي او پخپله دې د خپل ځان سپيناوی وکوي.

اوس نؤ لوتر ته ښه وار په لاس ورغلی ؤ چې خپله کيسه د سترواک مخې ته کښېږدي. د کال ۱۵۲۱ په پسرلي کښې هغه د يوې تکړه او درسته لرونکې بدرګې په ملتيا په يوۀ خوندي مزل روان شؤ او د اس په يوې بګی، کښې يې ټوله جرمني راوغوښتله. په دوؤ اونيؤ کښې چې هغه په ورمز کښې تر

خپلې استوګنې پورې رسېدلۍ نو په زړګونو وګړو هغۀ ته سپکې سپورې هم وویلې او هم زړګونو نۆرۆ بیا ډېر وستایلۀ. تر رارسېدلۍ یوه ورځ وروسته به هغۀ د نوي سترواک مخې پېښېدلۀ. دغۀ خو همهغه مخامخېدل ول چي په راتلونکۆ کلونۆ کښې به یې د اوروپا د تاریخ د بهیر لوری ټاکلۀ. او دا د ونیا د ازادۍ په تاریخ کښې هم یوه لویه میلتیګه وه. له لوتر څخه د هغۀ لوستنیو پوښنې او ګروېږنې کېدلې چي هغۀ لیکلي ول.

هغه ماسپښین مهال د سترواک مخې ته پېښ شۀ. هلته باچاژي، سرداران، اېلچیان، بیشفان، ارچبیشفان، خانان او خانبهادران ول. لوتر د دغۀ ټۆلۍ په شتون کښې چي کله د سترواک په مخ کښې درناوی کولۀ نو لږڅه پرېښان او اندېښمن ښکارېدلۀ. توروېونکۀ خو نېغ په نېغه خپله خبره وکوله. لوی څارنوال، جوهان فون اېک د لوستنیو یوې غټې کوټې ته ګوته ونیوله او ډېر په سپینسترګۍ یې له لوتره وپوښتل چي رېښتیا دغه کتابونه ستا دي او کنه؟ او بل دا چي اوس توبه ترې کوې او څنګه؟ لوتر د خپل وکیل له لارې د هغو د نومونۆ پوښتنه وکوله. او بیا چي دا ورته جوته شوه چي هغۀ یوازې د دې د توبې ایستلۀ لپاره رابلل شوی دی، نو یې د وخت غوښتنه وکوله چي دی خپل غبرګون تیار کې. هغۀ ته د څلېرویشتۀ ګنټو وخت ورکړ شۀ.

سبا په یوې داسې کوټې کښې اورېدنه کېدله چي ډېر زیات بیروبار ۀ پکښې. د لوستنیو په هکله هغه ورته وویل، هۀ دا رېښتا هم ټۆل زما دي. خو دوی ټول یو شان نۀ دي؛ یوه ډله یې هغه دي چي پخپله له اینجیل برخې دي؛ «هغۀ غندل به د هغې ګروهې غندل وي په کومې باندي چي زما دوښمنان او دوستان دواړه ټینګ ولاړ دي» بله برخه یې هغه دي چي د کیلیۀ په څواک یې ګوزار کړی دی، مان په پاپایي څواک باندي. مګر اوس خو هر چا ته پته ده چي پاپا خو درست مسیهیتوب برباد کړی دی، او په تېره بیا «دغه د جرمنانۆ پتمن ملت». هغۀ څنګه له خپلۀ ټکیو په شا کېدلای شۀ چي هر چا رېښتیا بلل. درېیمه برخه لوستینو په هغۀ کسانۀ ګوزار کړی ۀ څۀک چي د رۀم پلویان ول مګر د دین دوښمنان ول.

لوتر د ځان ژغورنې لپاره د پیغمبر مسیه لاره غوره کړه. کله چي لوی پادري، انیاس، له پیغمبر مسیه پوښتنې کولې، نو پیغمبر مسیه دومره ورته وویل چي «که چېرته ما دورواغ ویلي وي نو ما ته خپل درواغ راپه ګوته کړئ.» نو ځکه خو لوتر هم هغوی ته وویل چي « ما ته ووایئ چي درواغ چېرته دي: که یو څوک زما تېروتنېي راته په ګوته کولای شي نۀ تر ټۆلۀ لومړی به زه پخپله خپل لوستي اۀر ته واچوم»

اېک په ارامه هغه ته غبرګون ورکړۀ او ویې ویل، سترواک هرومرو تیار دی چي د بېتاوانه او تاواني تۀکۀ ترمنځ توپیر وکوي. مګر لوتر خو خپل ځان تر نۆرۆ ملایان اوچت ګڼلۀ. هغه بیا وویل، «لوتره، ته داسي مۀ ګڼه چي یوازې ته یو یې چي په رېښتیا باندي پوهېږې» په هغې سپېڅلې ارتوډاکس ګروهې باندي شک مه کوه، کومه ګرۀهه چي د سپېڅلو جرګۀ لخوا منل شوې ده او بیا

يې د کليسا لخوا پخلی شوی دی. دغه ستا ميراس هم دی او د هغې چېړل موږ ته روا نۀ دي. هغه وويل، « ما ته پکار ده چي يو ځل بيا له تا وپوښتم، او ورسره تا ته پکار ده چي بې رېښتونی غبرګون راکې، ښه په روکه او ډانګ پېيلې غبرګون چي له تش په هؤ او نا باندي نۀ وي ولاړ، څه ، ته به له خپلؤ لوستنيؤ او له هغؤ تېروتنؤ چي پکښې دي، لاس په سر شې او که به نۀ شې؟»

لوتر ورته وويل ، «ستا سپېڅلی بَرم او ستا مشرتوب لما څخه يو ساده غبرګون غواړي، سمه ده تاسي به زما غبرګون ترلاسه کئ، يو داسي غبرګون چي هيڅ کرې ورې به نۀ لري. مګر ترڅو چي سپېڅلی لوستنی (اينجيل) راته و نۀ وايي او بيا زما خپل زمير مي ملامت نۀ کي نو تر هغو به زه هيڅ توبې ته تيار نۀ شم. ځکه چي زه په پاپاګانو او د هغۀ په مرستيالانؤ دا باور نۀ لرم چي هغوی به تېروتنه نۀ کوي. او د خپل زمير په چپه يو څه کول نۀ د يو چا لپاره يو خوندي کار دی او نۀ هم د رېښتونولی چاره. زه دلته درته ولاړ يم؛ خدايه ته مي مرستندوی شې! ؛ زه نور هيڅ نۀ شم کولای.»

هغه دغه غونډله په جرمنی کښې وويله: *"Hier stehe ich; ich kann nicht anderst"* پسته دغه د لوتر نامتوترين ټکي شول او نن هم د ازاد زمير د ننګې لپاره د ياغيتوب يوه خورا زورَوره چيغه ګڼل کېږي. دغؤ ټکيؤ په ټؤله اوروپا کښې د جوش څرېکې خورې کړې او له همهاغې ګړۍ د ازاد سوچ پرمختګ په غوځنګونؤ شؤ.

لوتر چي د سترواک په مخکې کوم ياغيتوب او نټه څرګنده کړه له هغه پسته د خپل ځان د خونديتوب چورت ورسره پيدا شؤ، نو لَځکه په بيړه بېرته ويټنبرګ ته ستون شؤ. کله دوی د خپل هلکوالي ټاټؤبي، ايزناښ، کښې په ځنګل کښې روان ول نو د شوکمارانؤ يوې ډلې ورته پټکنۍ (کمين) کړې وه او هغوی يې نور مخکې له تللؤ څخه راوګرځول. مګر دا د رېښتياؤ پټکنۍ نۀ وه بلکې د هغۀ د ساتنې او ژغورنې لپاره يوه چلوټه وه او هغه کسان شوکماران نۀ بلکې د لوتر شکومي او دوستان ول. هغو لوتر له هغه ځای پؤرته کړؤ او په وارټبرګ کښې د غرۀ په سر يوې سونجې کلا ته يې ورسولؤ. هلته لوتر ږيره پرېښودله او له ځانه يې په هغه ځای کښې د مځکؤ يو څښتن جوړ کړؤ او ورسره يې په ځان جنکرجورج نوم کښېښؤدلؤ.

هغه به خپل وخت د اينجيل په کلاسيکې جرمني ژباړې تېرولؤ. (دغه ژباړه هغه له هغه متنه کوله چي ايرسموس ورته ورلېږلې وه. ) د دغې ژباړې د چاپولؤ لپاره هغه بېلابېل چاپټونونه وکارول او په خوارا ښکلې توګه يې چاپ کړه چي پخوا يې ببخي ساری نۀ ليدل کېدلؤ. پسته په راتلونکؤ لسؤ کلونؤ کښې لوتر يوازي د اينجيل 200,000 کاپۍ وپلؤرلې. تاريخپوهان وايي چي دا يوازي د لوتر غښتلې او سوچه الماني ژبه وه چي پروټېستېنټ بياسمون يې دومره چټک او کلپ خؤرووؤر کړؤ. د هغۀ وخت يو تاريخپوه وايي، « ترڅو چي هغه نۀ ؤ خپؤر شوی په موږ کښې هيڅؤک نۀ پوهېدلؤ چي موږ په څومره تيارؤ کښې ډوب وو»

د دغې چارې د پوره کولۆ وروسته اوس که هغه ويټنبرګ ته تللی وای نو هلته خوندي ۆ. نو ځکه هغه بېرته ويټنبرګ ته ستون شۆ او هلته يې د ژوند پاته شل کاله په کار تېر کړل. کومې سيمې چې د بياسمون تر څپې لاندي شوې هلته د زړې اډانې ځای يوې بلې نوې اډانې ونيولۆ. ګرۆهه (عقيده) اوس په وينا باندي بسيا وه او وينا اوس په اينجيل کښې وه، په يوۀ داسي اينجيل کښې چې د ګرۆهمنۆ په خپله ژبه کښې ليکل شوی ۆ. د کليسا ټولې چارې د اولس په ژبه کښې ترسره کېدلې او نۆر نۆ د منښتې کاروبار بېخي بند شۆ. دروېزګر ملايان بېره په ټولنه کښې زغم شول او ملايانۆ او موراګانۆ ته د وادۀ کولۆ ايجازه ورکړ شوه. لوتر پخپله په کال ۱۵۲۵ کښې له يوې پخوانۍ مۆرا، شپږويشت کلنې کاترين فۆن بۆرا، سره وادۀ په يوې ځايي کليسا کښې وکولۆ. په همهغه کال ورکره کمکی وشۆ او پسته نۆ لوتر د يوې لويې او خوشالې کورنۍ مشر جوړ شۆ. او پای کښې هغه له خپل پلار سره هم پخلا شۆ.

هغه ته اوس د وخت د پيغمبر په سترګه کتل کېدل. هغه په ژوندو اينسانانۆ کښې تر ټولۆ زيات اغېزمن کس ۆ. د هغه سبک د کمېدلۆ نۀ ۆ، لا اوس يې هم زۆرَور کار کولۆ، خورا زيات نامتو شوی ۆ،

ابرسموس او لوتر دواړه هغه لاره نيولې وه چې د وګړي يې د ځاني ازادۍ او خپلواکۍ تر منزله رسول. هغوی دواړۆ په په ګډه او په يوۀ وخت کښې لوبديځ ښارنتۆب (civilization) ته چې کومه ګټه ورسوله هغه خوراه ستره وه. د لورتر چيغه چې "*ich kann nicht anderst*" يوه داسي چيغه وه چې د منځني پېر د کليسا له ګورته يې د وګړي ځاني زمير ازاد کړۆ او د هغې ازادۍ لپاره يې لاره پرانيستله د کومې په بنسټ يو څوک کولای شي د يو بل چا د خوښې په چپه پخپله خپله خوښې څرګنده کي. نن ورځ جهان دې ته د يوې نۀ بېلېدونکې اينساني رېښتې (حق) په سترګه ګوري. د هغه د اينجيل ژباړې او د هغه لخوا د چاپ کارونې د هر نر او ښځې سوچ ازاد کړۆ چې رېښتيا څه دي. پخوا به به يو څۆ اوچتۆ ملايانۆ ته پته وه. هغه دوی د دې جۆګه کړل چې چورت ووهي، رېښتينې او اټکل وکوي، لومړی د هغه څه په هکله چې په اينجيل کښې ليکل شوي دي او بيا د هغه څه په د خپل سيکولري پوښتنۆ په هکله چې ټولنې يې ګروېږنه کوي. په ورپسې پېړۍ کښې دغه دواړه لارې وبله يوځای شوې کله چې د ځايي ژبۆ اينجيلونۆ په ټۆلنيزۆ اوښتونونۆ کښې خورا لوی پېر (Role)ولۆبولۆ. د لوتر په وخت کښې د ازادې وينا سيکولر سۆچ بېخي نۀ ۆ. مګر که چيري هغه د منځني پېر د کليسا په مخ کښې نۀ وای درېدلای نۆ نن به هيڅا دغه سيکولر سۆچ بېخي نۀ پېژندلۆ.

# د ټايندېل انګرېزي اينجيل

د لوتر تر شړل کېدلو لمخه، په ځايي ژبو کښې چاپ شويو اينجيلونو د شمالي اوروپا هر هيواد اولس ته دومره توان ورکړی ؤ چي مسيهيتوب ته په ښېخي بله سترګه وګوري مګر نه په هغه ډول چي کليسا هغوی ته ورښولی ؤ. ان په ۱۴۶۶ کښې په جرمني ژبه کښې يوه اينجيل خپور شو، ورپسې په ۱۴۷۰ کښې يو بل هم خپور شو، او په ۱۴۸۸ کښې اوه نور خپاره شول. په فرانسوي کښې لومړنی اينجيل په ۱۴۷۰ کښې خپور شوی ؤ او هم په چيکي، هالنډي او ډېنمارکي کښې ژباړې ترسره شوي وې. دوه کوله وروسته کله چي لوتر په وېټنبرګ کښې له اري يوناني څخه ژباړلو ته ملا وتړله نو د هغې مخې ته په جرمنۍ کښې ژباړل شوي څوارلس نور بېلابېل اينجيلونه پراته ول چي کار ورڅخه واخلي. تر بياسمون مخکې يوازي اينګلستان په خپله ژبه اينجيل نه لرلو. ځکه چي د هغه ژباړه يوه ناروا کار بلل کېدلو چي سزا يې مرګ ؤ.

د سپکاوي (heresy) وېره تر ټولو لوی لامل ؤ. کېدای شي بل لامل يې دا ؤ چي ځايي ژبه شبړه، شډله او چټله ګڼل کېدله. د چاپ تر جوړېدلو ډېر پخوا په په کال ۱۴۰۸ کښې د اينجيل په انګرېزي ژباړه باندي بنديز د يوه دستور چي «د اکسفورډ دستور» په نامه و نامتو شو، لخوا هغه وخت ولګېدلو، کله چي د جان ويکليفي د سپکاوي د ليکنو د مخنيوي لپاره ورکړ شو. دغه دستور يو ځل بيا ولګول شو کله چي د اتم هينري ستر وزير، کارډينل ولسي، په دې وپوهېدلو چي د ځايي ژبې اينجيل د کليسا واک او دولت ته څومره زيات تاوان وراړولای شي. که اولسي وګړي پرېښودل شي چي د خدای له ونيا سره په خپله ژبه کښې ولد شي نو دوی به په دې پوه شي چي په اينجيل کښې خو د برزخ، د پينځو يا اوو مسيهي دؤدونو، د ملايانو او پيرانو، د ګنا منلو او بيا د په پيسو د توبې اخيستلو او منښتو هيڅ ګای نشته. په دې سره يو ګناکار په دې هم پوه شي چي د هغه برخليک د خدای په لاس کښې دی نه د ملايانو او پيرانو په لاس کښې.

که دغه ګايونه اولس ته جوت شوي وای نو هرومرو به يې د ملايي او پيري هغه اډانه رانسکوره شوې وه د کومې په زوَر چي ملايانو او پيرانو د وګړو ژوند او ګرهه په خپل ګورت کښې نيولې وه. نو ځکه خو کليسا په د بنديز په ګای پوري کلک ونښتلو چي د سپېڅلي کتاب هيڅ متن په انګرېزي يا په کومه بله ځايي ژبه کښې نه شي کېدلای. په بنديز کښې ويل شوي ويل «چي هيڅ دغسي لوستنی، پاڼه يا پارچه ، چي اوس ليکل شوي وي او يا د جان ويکليفي په ورځو کښې او يا به ګانده ليکل کيږي ، به نه څوک د اولس په مخکښې لولي او نه يوازي له ځانه سره.»

د جان ويکليفي لخوا د ژباړل شويو له يو څو پاڼو پرته په ګرد اينګلستان کښې يوازينی اينجيل هغه ؤ چي په لاتين کښې ليکل شوی ؤ او زر کاله وړاندي د سېنټ جېروم لخوا تيار کړ شوی ؤ. هغه له خورا ډېرو ايستنو او تېروتنو ډک ؤ. مګر له يو څو ملايانو پرته په هغه بل هيڅوک نه پوهېدلو. کله چي په ۱۵۲۰ کښې د لوتر د بياسمون اوازې اينګلستان ته راخورې شوې نو د اينګلستان اميان

سړي او ښځې د انګرېزي ژبې اینجیل ته دومره ورېږي او تږي ول چې ان د دې لپاره مړه کېدلو ته هم تیار ول. لږترلږه دغه ګای هغه وخت رېښتیا شو کله چې سترترین انګرېز ژباړونکي، ویلیم ټاینډېل خپل ژوند دې ته ورکړو چې له اري یوناني او ایبراني څخه به یې اینجیل انګرېزي ته ژباړي.

په کال ۱۴۹۵ کښې په ګلوسټرشایر کښې پیدا شوي ټاینډېل د اکسفورډ په مګډالېن ښوونځي کښې زدکړه وکوله چېرته چې په هغه وخت کښې په ټول اکسفورډ پوهنتون کښې د انګرېزي ژبې ګرد شپېته لوستني ول او بس. نور ټول لوستني په لاتیني کښې ول، چې هغه وخت د زدکړې، دینپوهنې او کانون یوازینۍ ژبه وه. د اکسفورډ ښوونکي به یوازي د پوهنځو له نوکرانو سره په انګرېزي کښې رېغېدل؛ په خپل منځ کښې به په لاتیني رېغېدل او شاګردانو ته به یې هم ښوونه په لاتنیني کښې کوله. دا ټاینډېل او په هغهٔ پسې لنډ ځینه ځایناستي ول چې انګرېزي یې د یوې داسي ژبې په توګه ورلاندي کړه چې د نازکو چورتونو د څرګندونې دومره زیات توان لري چې ډېر کم یې ساری پیدا کېږي. د وخت یو تاریخوپوه لیکي: په یوه داسي وخت کښې چې انګرېزي ژبې هلې ځلې کولې چې د لاتیني او فرانسوي ژبو پېښې وکوي، هغه میلت ته یوه داسي ژبه ورډالۍ کړه چې توري، د توریو جوړښت او اواز هر څه یې پخپله د انګرېزۍ ول. د دې لپاره هغهٔ هغه ژبه غوره کړه چې اولس ویله نهٔ هغه ژبه چې پوهانو به لیکله. هغهٔ له ځانه scapegoat او Passover په شان ډېر ټکي له ځانه جوړ کړل او داسي غونډلې او متلونه یې ورغول چې د انګرېزي ژبې د اډانې زړه تې کوزې شوې. د هغهٔ د لیکنې ډول او سکښت زیاتره یوځیي ، لنډګنډ او ساده ؤ.

ټاینډېل د اینګلستان لپاره ژبه ورغوله. د هغهٔ له ژباړلي اینجیله پرته به په هغهٔ ادب، فلسفې، هونر، سیاست او ټولنه چې په راوروسته څلورو پېړیو کښې ولیکل شول پوهېدل ناشوني وي. که هغهٔ نهٔ وای نو په اینګلستان کښې به د پېراډایزلاسټ، پیلګریمز پراګرس، د هانډېل مسیها، او ګېټیسبرګ اډرس هم هیڅ نهٔ ول لیکل شوي. د هغهٔ ژباړلی اینجیل د انګرېزي ادب تر ټولو لوی شاهکار دی. یوه پېړۍ پسته چې جېمز باچا د اینجیل د ژباړې چاره پیل کړه نو هغه ژباړه نهه په لسو کښې د ټاینډېل له ژباړې څخه واخیستل شوه.

ټاینډېل د چورت او بدن له خوا یوه ساده باده او ملنګ کس ؤ. هغهٔ چې کله پوهنتون پوره کړو نو یې ډېر ژر وپتېله چې دی به خپل ژوند په دې چاره تېروي چې اینجیل له اري یوناني ژبې څخه انګرېزي ته وژباړي. په دې هکله هغهٔ پخپله وایي، «په ما دا تجربه تېره شوې وه چې د امیانو لپاره د رېښتیا پېژندنه تر هغو ناشونې وه ترڅو چې اینجیل د دوی پخپله ژبه کښې د دوی مخې ته غوړېدلی نهٔ وي»

هغهٔ په کال ۱۵۲۳ کښې لندن ته راغی، همهغهٔ وخت چې په جرمني ژبه کښې د لوتر د لیکنو له برکته د مسېهي دین یوه نوې ښه په څرګندېدلو وه چې د کس په ځاني ګروهه باندي ولاړه وه، او دا هغه ګروهه وه چې د نبغ په نبغه د اینجیل له لوستلو لاس ته راتلای شوه. د خپلې پروژې د مالي مرستې

لپاره ټاينډېل د لندن ښار نوي ارچبيشف، کوتبرټ ټنسټال، ته ورغلۀ چي په پۀهه او زغم کښې يې نوم لرلۀ او د اېرسموس نيزدې دۀست هم ۇ. مګر ټنسټال يو چالاک سياستپۀه هم ۇ او د دغسي بۀلډاله وړانديز په پاپلۀ ډېر ښه پۀهېدلۀ، نو له ځکه يې نټه ورته وکوله. د يوڅۀ انګرېزانۀ سوداګرۀ په پټه مرسته هغۀ جرمني ته ولاړۀ. کېدلای شي چي هلته يې په ويټنبورګ کښې له لوتر سره ليدۀکاتۀ کړي وي او بيا وروسته په کولۀن کښې خپل کار ته کښېناستلی وي. هلته هغۀ يو چاپوالا پيدا کړۀ. په کال ۱۵۲۵ کښې د ټاينډېل لخوا د ژباړل شوي «مېتيو» په څلۀرۀ کښې ايله درې برخې چاپ شوې وې چي د چارواکيو لخوا هغۀ چاپ وتړل شۀ. ټاينډېل له خپل مرستيال سره د راين د سيمې پروټسټېنټ ښار،وۀرمز، ته دتيښتېدلۀاو خپل کړی کار يې له ځانه سره يۀړلۀ. همدلته هغۀ په کال ۱۵۲۶ کښې په انګرېزۍ ژبه کښې بشپړ اينجيل لومړنی چاپ خپۀر کړۀ. ډېر ژر يې اينګلستان ته کاپۍ کاچاک شوې چېرته چي يې ډېر ژر خورا ژوړ جۀړ کړۀ. ورپسې په ۱۵۳۴ او ۱۵۳۵ کښې نۀرې چاپونې راووتلې چي د متن په لوستلۀ يې د انګرېز انۀ لوی هم ولګېدلۀ او هم رابيدار شول.

په سر کښې هيڅۀک نۀ پوهېدل چي بنديزشوي اينجيلونه له کمې راروان دي. ځکه چي په مخپاڼه يې نۀ د ځای، نۀ د چاپونکي او نۀ د ژباړونکي نومو ۇ. متن يې بې له کومې پيلامې نېغ په نېغه د سېنټ مېتيو له اينجيله پيلېدلۀ. مګر ډېر ژر دومره نامتو شۀ چي يوازې په په اکتوبر ۱۵۲۶ کښې يې 6,000 کاپۍ لاس په لاس ګرځېدلې. ډېرې کاپۍ يې د سامانونو په بار کښې چي په پۀستکيۀ او کاليۀ په غوټۀ کښې پېچلې وې راتېرېدلې. زياتره به پاڼه پاڼه وې او کله چي به تر ځايه ورسېدلې نۀ بيا به سره يو ځای کړ شوې او وبه ګنډل شوې. په لندن کښې د لوستنيو دوکانونۀ هم کله کله پلۀرل. يو ځل خو کليسا هم خپل استازی ولېږلۀ چي ټولې کاپۍ يې وپېري او بيا يې وسوځوي. د دې مانا دا وه چي ټاينډېل بيا اړ شۀ نۀرې کاپۍ يې چاپ کړې چي کار روان وساتي.

له دې وروسته نۀ د کليسا هم سم ورپام شۀ او ډېر ژر وۀلسې امر وکولۀ چي ټۀلې «ناسمې ژباړې» دې وسوځول شي. کله چي کوتبرټ ټنسټال ته پته ولګېدله چي ژباړه د ټاينډېل کړې ده نۀ يې د ښار چارواکۀ ته په لاتيني کښې يو خورا تونډ ليک ورولېږلۀ او امر يې ورته وکولۀ چي هرڅومره کاپۍ چي يې وي پيدا دې يې کي، سره راغونډې دې يې کي، او د کليسا ومخې ته دې يې په يوه دستوره کښې د سرکاري جلاتانۀ لخوا وسوځول شي.

ټاينډېل خورا خپه شۀ. که د چا خپلې ليکنې ته د سپکاوي نوم ورکړ شي دا يو جلا ګای دی. مګر د خدای وينا سوځول خو لوی زياتی دی. او بيا د هغۀ چا په امر وسوځول شۀ چي د اېرسموس دوست ۇ او پخپله هم په اري يوناني متن ډېر ښه پوهېدلۀ، او هم ښه ورته پته وه چي ټاينډېل يو ښه مومين ۇ او په ژبه هم ډېر ښه پۀهېدلۀ ځکه خو يې ډېره پخه او سوچه ژباړه هم کړې وه. د ټاينډېل په سترګه، کوتبرټ ټنسټال د خپلې اينسانپالنې ستڼۀ (اصول) ته دۀکه ورکړه چي وۀلسې او باچا خوښ وساتي.

د ملایانو لپاره یوه ستونزه هغهٔ وخت پیدا شوه کله ټایندېل یوه داسي پارونکې مګر کره ژباړه وکوله چي پکښې له یوناني څخه ژباړل شویؤ ځینؤ ټکیؤ د لاتیني له هغؤ سره سمون نه خوړلؤ. ټایندېل په ریښتیا ؤ کله چي يې د یوناني ټکي "metanoes" مانا «توبه» ولیکله. خو د کلیسا په متن کښې دغه ټکی په لاتنی کښې "penitentiam" لیکل شوی ؤ چي مانا وه «کفاره». هغهٔ ته پته وه چي دا د کلیسا له ګټؤ سره په ټکر کښې دی خو بیا يې هم کره او سوچه مانه ته لومړیتؤب ورکړؤ. هغهٔ چي یوناني ټکي ekklesia ته چرچ په ځای د «غونډېدنې» مانا ورکړه نؤ هم کره ؤ. همداسي هغهٔ presbeteros ته مشر مانا ورکړه چي په لاتنین متن کښې ورته د بیشف مانا غوره شوې وه. هغهٔ ښه پوهېدلؤ چي په کار به د زوروري کلیسا واک یوڅه کم شي. ستونزه هغه مهال نؤره هم درنه شوه کله امیانؤ ته – او همداراز کېدلای شي ډېرؤ ملایانؤ او شیخانؤ ته هم - نابېره پته ولګېدله چي اري اینجیل په یؤناني ژبې کښې لیکل شوی ؤ. خو د هغوی رؤزنه د جېروم لاتیني ولټاج اینجیل سره سمه شوې وه، او په همدغه اینجیل په ښؤونې او لارلیکه باندي خو له تېرؤ زرؤ کالؤ هم زیات کلیسا ولاړه وه. مګر اوس «چي جاهلؤ او نالوستؤ شېخانو ته د نوې زدکړې د ودې پته ولګېدله نؤ له خپلؤ ممبرونؤ ته يې ور ودانګل او نارې سورې يې پیل کړې. ویل به يې چي یوه نوې ژبه یوناني راپیدا شوې ده او اولس دي پام ورسره کوي، ځکه چي دا همهغه ژبه ده چي «کوفر غرونې» يې زېږولې دي او اینجیل يې له «له اغزیؤ او غنؤ» ډک کړی دی.

مګر د دغؤ ناندریؤ کښې د د ټایندېل سرسخت او نازغمونکي سیالان ناپوهان او نالوستي شیخان نهٔ ول. نؤر خو لا په ځای پرېږده، یو په هغؤ کښې د اینګلستان نامتو روښندوی او د اېرسموس دؤست، سرتامس مور ؤ. هغهٔ چي به د ټایندېل په چپه کومې ریښتینیۍ او رټ ګایونه ویل په هغؤ باندي اوس هم د دهٔ ستایونکي خبرزه دي. ان په ډېرؤ نرمؤ لیکنؤ کښې به راتلل چي «ټایندېل یو بوت لمانځی او شیتان لمانځي کس دی... د خپلې ځناوري خولې څخه سخا او کوفري ګایونه راوځي.» مګر سرتامسمور له هم له هغؤ پؤهانؤ څخه یو ؤ چي په دې باور ول چي که د اینجیل په انګرېزي ژبې د ژباړل کېدلؤ ته پرېښودل شي نؤ امیان به له لوستلؤ څځه ناسمې ماناګانې واخلي – په تېره هغه کرښې چي ګرؤهه زباتوي او «ډېر ستر پؤهان هم په ډېره ګرانه پرې پؤهېدلای شي.»

کله چي يې په خپل هیواد کښې ناندریۍ ښه په درز کښې روانې وې نو په هغه مهال کښې ټایندېل له ورمز څخه لومړی همبورګ ته او بیا انټوېرپ ته ولاړؤ . دغه د ښېلټ رؤد په غاړه یو غوړېدونکی ښار ؤ او په هغه وخت کښې يې د چاپ کاروبار تر لندن ډېر مخکې روان ؤ. په دغه ښار کښې یوه انګرېزی ګډواله (شرکت) چي مرچنټ اډوېنچر نومېدله هم وه. همدغې ګډوالې هغه ته سرپنا او د کار لپاره ځای هم ورکړؤ. همدلته هغهٔ د اینجیل د راتلونکې ګڼې بیاکتنه ترسره کړه او ورپسې يې له اري ایبراني څخه د تورات ژباړلؤ ته ملا وتړله. ایبراني هغه ژبه وه چي په هغه وخت کښې په اینګلستان کښې هیڅؤک نهٔ پرې پوهېدل، مګر ټایندېل چي کله په جرمني کښې ؤ نؤ يې دغه ژبه هم زده کړه. د پاته ژوند لپاره نو انټوېرپ د هغهٔ کؤر شؤ ځکه چي دغه ښار د ازاد چاپ، او د ازاد

چورت د خپراوي ځانګړ بلل کېدله. په انتوېرپ کښې شپېته ښه سمبال چاپونه ول چې تکړه تیخنیککګرانۀ به کښې کار کولۀ او له سره سره دغه ښار خورا تکړه لوستونکي او لیکوالان هم لرل. هر کال په بېلابېلۀ اوروپايي ژبۀ کښې به نیژدې ۲۰۰۰ لوستني چاپېدل. مګر لندن به په متېکې ۳۰۰ لوستني چاپ کړای شول.

د کال ۱۵۳۰ په لومړیۀ کښې د ټایندېل له ټول ژباړلي کار څخه یو ښکلی لوستنی چې نوم یې «*د موسا لومړی لوستني چې ازل یې بولي*» ۀ ایګلستان ته کاچاک شۀ. د هغۀ ژباړې د لوستونکۀ په مخ رڼا کړه ځکه چې د ورسې او لېکنې ډول خورا ساده او انګلۀساکسني ۀ. د بېلګې په تۀګه، «او خدای وویل، پربېدئ چې رڼا شي: نو رڼا شوه»، یا کله چې د فیراون په باره کښې لیکي نو داسي ښکاري لکه ټوکې چې کوي، «نۀ بیا د هغۀ مسخره بۀلندویان په سرۀ سمندر کښې ډوب شول»، هغۀ یوسف نبي ته «بختور کس» وايي. پخوا هیڅا له ایبراني څخه د نېغې ژباړه هڅه نۀ وه کړې. ټایندېل ته پته ولګېدله چې له ایبراني څخه کومه ژباړه په انګرېزي کښې کېدلای شي هغه تر لاتیني هم ښه ده. کله چې هغۀ «ازل» وژباړلۀ نو په ډېرۀ ځایونۀ کښې لوستونکۀ ته څرګنده شوله چې دوی له هغۀ خدایه سره په ړومبي ځل مخامخېږي کوم چې په تورات کښې دی. هغۀ د پیځون، د ادم او اوا، د نۀه کیښتی، د یاکوب د خۀب لیدنې، او د یوسف د رنګېدلي خت کیسې په خورا ساده او اسان نسر کښې ولیکلې. دغه کیسې نن هم هغومره تازه او ساده دي لکه څومره چې ۵۰۰ کاله وړاندي د ټایندېل په وخت کښې وې. دغه کیسې د انګرېزي ادب له سترۀ برمونۀ څخه شمېرل کیږي.

مګر بیا هم کله چې هغه اینګلستان ته ورسېدلې نۀ هلته اولس یې له لوستلۀ څخه د مرګ په نره بند کړ شول. په کال ۱۵۳۰ کښې یوازې د لوستنیۀ نۀ بلکې د هغۀ وګړۀ سوځول هم پیل شوي ول چا چې به دغه لوستني یا لوستل او یا به یې چاپول. ړومبی شهید شیخ تامس هیټن نومېدلۀ. هغۀ ژوندی په اۀر کښې وسوځول شۀ ځکه چې منلې یې ول چې له بهره یې یو اینجیل او یوه سیپاره راکاچاک کړې وه. ورپسې نۀر کسان هم له دغه برخَلیک سره مخامخ شول: په هغوی کښې یو کم نامتو بزرګ تامس بیلنې ۀ. کله چې یې هغه په نارویچ ښې د لۀلارډ په کنده کښې په سوزلۀ باندي د وژلۀ لپاره بوتللۀ نۀ هغه په لاره کښې خندل او یل یې: «زه چې کله د ټایندېل ژباړه لولم نو په خپل ځان کښې دننه وینم او یوه ښېشانه خوښي او ارام هوښم ان تر دې چې زما زړې زړې هډونه هم په غورځنګونۀ شي»؛ له جېمز باینهام سره د ټایندېل پینځه سره لوستني ونیول شول. ړومبی یې هغه په چېلسي کښې د سرتامس مور په کۀر کښې شیکنجه کړۀ او پسته یې په سمیتفیلډ کښې وسوزلۀ؛ جان ښېنټ او تامس هارډینګ یې په په کال ۱۵۳۲ کښې وسوزول؛ ریچرډ ښفیلډ او تامس ښېنېټ په دېون کښې وسوزول شول؛ په کال ۱۵۳۳ کښې په همهاغه ورځ انډریو هاویټ، جان فریت، او ایلیزبت بارټن او نۀر ډېر کسان هم وسوزول شول. له سلګونۀ نۀرۀ سره هم د انګرېزي ژباړه ونیول شوه او اړ ایستل شول چې تۀبه وباسي. د دغۀ ټۀلۀ کسانۀ نومونه د جان فاکسر په لوستني *Book of Mysteries* کښې یاد شوي دي چې ډېرې کمینې دندې یې ترسره کولې، لکه چمیار، اینه ګر،

ګنډونکی، نؤکر، ډنډؤرچي، کتاب ګنډونکی، اؤبدونکی او ملا. کله کله به سر تامس مور پخپله هم هلته شته ؤ او ډېر خوند به یې اخیستلؤ چي دغه کسان به شیکنجه کېدل او وروسته به د دار ته ورېل کېدل. هغه د باینهام په هکله ولیکل چي هغه به چټیات ویل نؤ ځکه خو پکار وه له نؤرؤ کوفر غرونکؤ سره یوه ځای په دار باندي ختلی وای. هغه به د دغؤ کسانؤ په هکله ویل: « د سمیتفیلډ اؤر خو هیڅ هم نهٔ دی، بلکې دغه کمبختان خو به تل ترتله د دؤزخ په اؤر کښې سوزي». د انګرېزي اینجیل په اړه چي د تامس مور دغسي ځرګندونې هرڅؤک ووینې نو سخت هک شي ځکه وروسته خو تامس مور پخپله هم شهید شؤ.

په دې ترڅ کښې، ټایندېل په په انټوېرپ کښې خپل کار روان وساتلؤ، په کال ۱۵۳۴ کښې یې د اینجیل نوې او بیاکتل شوې ګڼه راوایستله او په همدغه وخت کښې یې د تورات په پاته څپرکیو باندي هم کار پیل کړؤ. دا ځل یې د هر څپرکي په سر کښې یوه پیلامه هم ورزیاته کړه چي زیاترو موخه ښه جوتیا وه مګر یو څؤ پکښې بېخي پارونکې هم وې. د بېلګې په تؤګه هغه پیلامه شپږډېرش مخه وه کومه چي یې د څپرکي ,,د شېخ پال لیک وَ رومیانؤ ته،، په سر کښې لیکلې وه، او کومه چي لوتر ورته ویلې وه او بیا هغه ټکي په ټکي لیکلې وه. په بله مانا په هغې کښې به هر څه د کاتولیکي کلیسا په چپه ول. هغه په همدغه ګڼه کښې د *presbeteros* د ژباړې لپاه د ,,مشر،، ټکی وکارولؤ. هغهٔ ښه پؤهېدلؤ چي دغه ژباړه به کلیسا د دهٔ دوشمنه کي. کېدلای شي چي همدغه پیلامې او لمن لیکونه او ځینه ځاني ټکي ول چي د ټایندېل د بخت غوڅه یې وکوله.

په دې کښې هیڅ شکه نشته چي د ټایندېل د ۱۵۳۴ اینجیل د هغهٔ شاهکار ؤ. ځکه چي ژبه یې نؤره تېره او نؤره سوچه وه او هم د رغښت او اهنګ له پلوه نؤره هم په غښتلې تو‌ګه انګرېزي ښکارېدله. د ټایندېل په ژباړه کښې ټؤل توري سندیز ول، او بېخي انګرېزي سور یې لرلؤ، یو داسي سور چي د اري یونانی هغه ځرنګوالی له واریه پکښې ځلېدلؤ چي ډېر پخوا وولګېټ پینځولی ؤ.

مګر اوس نؤ په ټایندېل باندي هم ورؤ ورؤ جال راتنګېدلؤ. اوس نؤ هغه په انټروېپ کښې هغومره هم خوندي نهٔ ؤ لکه څومره چي یې سؤچ کولؤ. په ۱۵۳۵ کښې له هغهٔ سره یوه ستره دوکه وشوله. یو کس چي هېنري فیلیپس نومېدلؤ او یو خوارخوشی سړی ؤ. هغهٔ ته بډې ورکړ شوې چي په یوه یا بله تؤګه ټایندېل په دوکه باندي له کؤره راوباسي، هغهٔ ته دي مېلمستیا وکوي او د ماښام ډؤډۍ ته دي یې روغواړي. ټایندېل د هغهٔ مېلمستیا ومنله. مګر کله چي هغهٔ د کؤربهٔ د کؤر د روازې ته ورسېدلؤ نؤ فیلیپس هلته ناستؤ کؤتوالانؤ ته اشاره وکوله چي همدا هغه کس دی چي دوی یې باید ونیسي. کؤتوالانؤ هغه د سترګؤ په رپ کښې یوې خوندي کلا ته یؤوړلؤ چي د برسلز او لؤویان په منځ کښې پرته وه کومه چي یوه کاتؤلیکي سیمه وه. له یونیم کاله وروسته هغهٔ په دستوري تؤګه په کوفر غرولؤ باندي ګرم وبلل شؤ. د کال ۱۵۳۶ په سر کښې هغهٔ سیکولر چارواکو ته و سپارل شؤ چي د مرګ سزا ورکي، او د سپېڅلې رومي ستروا‌کۍ د لوی څارنوال په شتون کښې یې هغه د دار خوا ته کش کړؤ. له دار سره نیژدې د ګینګړخل او وچ لرګي کوټه کړي ول. او بیا یې ور باندي د

ټوپک باروت شیندلي ول. مګر هغهٔ یو ژوندی و نهٔ سوزولۀ. هغهٔ یې ژوندی راوستلۀ او په دار باندي یې وتړلۀ او بیا ړومبی د جلادانۀ لخوا تېزندی کړ شۀ او وروسته په اۀر کښې لولپه کړ شۀ. کله چي لوی څارنوال د هغهٔ د تېزندی کولۀ اشاره ورکوله نو په هغه ګړی ټایندېل په پوره جۀش دغه چیغه وایستله: «اې باداره، د اینګلستان د باچا سترګې پرانیزه! »

یو د اریانی ګای دی چي د هغهٔ پخوانی دوشمن، سرتامس مور، هم د هغهٔ په شان بخت سره مخامخ شۀ. هغهٔ ته په کال ۱۵۳۵ کښې د ستر یاغیتۀب په تۀر باندي د مرګ سزا ورکړ شوه. هغهٔ په دې د باچا هینري اتم خشم راپارولی ۀ چي له انېبولینې سره د هغهٔ په وادۀ کښې یې له ګډون څخه نټه کړې وه او ورپسې یې په اینګلستان باندي د پاپایي واکمنۍ ننګه هم وکوله. اوس نۀ هغه وخت رارسېدلی ۀ چي هېنري اتم پخپله بیاسمون ته لاره پرانیزي. هغهٔ ړومبی مدرسې له کاره واچولې او ورپسې یې د په انګرېزي ژبې کښې د اینجیل چاپونه او خپرونه روا کړه. دغه کار په ۱۵۳۹ کښې وشۀ. په انګرېزي ژبې کښې چي کوم اینجیل چاپ کړ شۀ هغه په رېښتیا همهاغه د ټایندېل ژباړه وه مګر په ښکاره هیڅا داسي نه ویل. د تورات کومې برخې چي له ټایندېل څخه پاته شوې وې هغه د دهٔ تکړه شاګرد، میلزکۀوردېل پوره کړې. همدغه اینجیل له یو څو بدلونونۀ سره د رانۍ ایلیزبتې په ټوله واکمنۍ کښې کارول کېدلۀ. په ۱۶۱۱ کښې د باچا جېمز په امر یوه بله ګڼه چاپ کړ شوه چي نۀرې جوتیاوې لرلې. خو بیا یې هم دا د ټایندېل په هغې شانداري ژباړې باندي ولاړ ۀ کومه چي په ځای د انګرېزي ژبې له اغېزناکترینو کارونۀ څخه یو بلل کیږي. د ټایندېل ژباړې د انګرېزي ژبې د سور او اهنګ بنسټ کښېښۀدلۀ. دا یوه ستره بریا وه؛ یوا داسي بریا کومه چي هغهٔ د سر په سودا وګټله. مګر هغه په نړۍ کښې د پۀهنې او ازادۍ په سرخېلانۀ کښې وشمېرل شۀ.

د هغهٔ د مرګ په سزا لا یوه لسیزه نهٔ وه تېره شوې چي کاتولیکي کلیسا په ټرېنټ جرګې کښې د بیاسمون په چپه خپل غورځنګ پیل کړۀ. هغوی د خپله ګروهه له کوفرغرونې څخه د پاکولۀ او د ازاد سوچ د زپلۀ په موخه جهاد پیل کړۀ. په ټرېنټ کښې کلیسا د یوازې د وولګېټ اینجیل د روایشت پخلی وکړۀ، د منکراتۀ په اداري یې بیا کتنه وکوله، او د بندیز شویۀ لوستنیۀ نومونه یې ولیکل.